اوونیزه

) د ثور / غويي (۲۹) مه

Twitter.com/@tatobaynews - www.Tatobaynews.c

# خو سولي ته تږي افغانان؛
# ړي تداوم غواړي؟



ځپلی او د سختو ستونزو او کړاونو سره يې مخ کړی دی. افغان ملت هره ورځ د دغي
کړېږي. افغان ملت د رواني خونړی جگړې اصلي بيه پرې کوي، ځکه خو په وارو وارو
و ته له هري خوا بدبختي راغلې ده او هره خوا د افغانانو په وينه سره ده.

۳

ځيني
بهر ميشتي
فيسبوکي
منتقدين!
عليه لعنة

عبدالحليم حلمیار

۳

بې ساعته
روژه

سردار ولي پښتونزوی

۱۱

کيسه!!!

اکبر شير

۱۱

نارينه
ولې د ښځو
پر وړاندې
بې ميله
کېږي؟

ليکنه: خالص اديب

۱۱



روژه ماتي
په خُرما سره کول

د روژې فضائل | ۵ مخ



د نړۍ ۱۰
ستر مسجدونه!

معلوماتي | ۶ مخ



په روژه کې له تندې خخه د
مخنيوي لارې چارې!

روغتيا | ۷ مخ



په کندهار کې د فوټسال
سيالۍ پيل سوي

سپورټ | ۸ مخ




په انلاين ډول د انتخاباتو ترسره
کول څنگه ارزوی؟

خلک او تاتوبی | ۴ مخ

# په کندهار کې د ماهيانو فارمونه؛ د کاله
# ٦ زره ټنه توليد لري



# ه؛ امريکا پرې له
# وال رغوي



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له جګړې ستړي، خو سولې ته تږي افغانان؛ څوک د جګړې تداوم غواړي؟

شنونکي وايي، په افغانستان کې د سولې نه راتګ څو دلیله لرلای سي، چې یو یې په هیواد کې د پخوانیو جګړمارانو او جګړه کوونکو ډلو-ټپلو له لوري د جګړې د تداوم غوښتنه ده، نو ځکه خو د سولې په برخه کې پخ پرمختګ روان دی.

په قطر کې د طالب استازو او امریکایي پلاوي له شپږم پړاو خبرو وروسته اوس داسې ښکاري، چې دا خبرې بې پایلې وې. که څه هم د دغه پړاو خبرو ته ډېره تمه وه او ویل کېدل، چې په دې خبرو کې به ډېر پرمختګونه وسي، خو د دواړو اړخونو له څرګندونو داسې ښکاري، چې د قطر د شپږم پړاو خبرې ډېرې ښې نه وې.

د معلوماتو په اساس، قطر کې د سولې د مذاکراتو تر شپږم پړاو مخکې باید بین الافغاني خبرې اترې سوې وای، خو د غونډې د ګډون والو په سر د اختلاف له امله دا غونډه ترسره نه سوه.

په دې غونډه کې امریکا غوښتل، چې د طالبانو د دریځ خلاف دغه ډله له حکومتي پلاوي سره مخ کړي، خو طالبانو مقاومت وکړ او پایله یې دا سوه، چې د قطر بین الافغاني غونډه ترسره نسوه.



هاخوا په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) د روژې په لومړۍ اوونۍ کې په افغانستان کې پر ملکي کسانو د زیات سوي تاوتریخوالي د اغېزو له کبله ژوره خواشیني څرګنده کړه.



د روژې مبارکي میاشتي په درشل کې طالبانو او نورو وسله والو ډلو د بغلان په امنیه قومندانۍ، کابل کې د کاونټرپارټ په نوم پر یوې خصوصي موسسې وسله وال بریدونه او دغه راز په جلال آباد ښار کې څو غبرګي چاودني وکړې، چې زیات ملکي تلفات یې لرل او په ټپیانو کې یې ښځې او ماشومان هم شامل وو.

په ولسي ګڼمېشتو سیمو کې وروستي بریدونه په داسې حال کې ترسره کېږي، چې د هیواد په مختلفو سیمو کې د زیات سوي تاوتریخوالي پراخ رپوټونه ورکول کېږي او ادعا کېږي، چې د دغو بریدونو درنه بیه ولسي وګړي پرې کوي. یوناما بیاځلي د جګړې پر ټولو اړخونو ږغ وکړ، چې په روژه کې جګړه ودروي او د ملکي وګړو د خوندیتوب په تړاو خپلې ژمنې عملي کړي.

د دې تر څنګ د سولې شپږم پړاو خبرو کې امریکایي پلاوي تر ډېره پر آوربند او بین الافغاني خبرو-آترو ټینګار کاوه، خو طالبان پر خپل پخواني دریځ ولاړ وه.

د زلمي خلیلزاد له قوله، چې که طالبان د اوربند او بین الافغاني خبرو اترو غوښتنه ونه مني، نو ستونزه نه حلېږي، چې همدې مسئلې د قطر پر خبرو هم ژور سیوری غوړولی دی.

شنونکي وايي، چې طالبان د سولې هیڅ واک او اختیار نه لري، ځکه خو د مذاکراتو پر مهال خپلواک نه وي.

شنونکي، د طالبانو او القاعده په ګډون د پاکستان له لوري ۷۲ روزل سوي تروریستي ډلي، چې تل یې په افغانستان کې جګړه کړې او بې دفاع خلک یې وژلي دي، د افغان سولې اساسي خنډ ګڼي. د معلوماتو له مخې، د دغو وسله والو ډلو د غړو شمېر آن ۲۵ میلیونو تنو او د روزنځایونو او مرکزونو شمېر یې ۳۲ زرو ته رسېږي، چې هر وخت یې په افغانستان کې د پاکستان د ګټو لپاره جګړه مخته وړې ده.

د کارپوهانو په باور، امریکا دې تر هر څه مخکې د افغان سولې د بریالیتوب په هدف پاکستان په نښه کړي، تر څو په افغانستان کې د سولې ډېوه بله سي.

د امریکا او طالبانو تر منځ په شپږم پړاو مذاکراتو کې که څه هم د پرمختګونو خبري سوي، خو تر اوسه د طالبانو په دریځ کې هیڅ ډول بدلون نه دی راغلی او امریکا هم ظاهراً له افغانستان څخه د وتلو نیت نه لري.



د سولې شپږم پړاو خبري په داسې حال کې پای ته ورسېدې، چې خپله زلمي خلیلزاد د دغه بهیر له کرار پرمختګ څخه ناخوښي څرګنده کړه.

د شنونکو په آند، تر هغه چې بین الافغاني مذاکرات پیل نه سي او افغانان پخپلو کې تفاهم ته سره ونه رسېږي، دا ډول ناستې او غونډې به مطلوبه نتیجه ونه لري.

د یادوني وړ ده، چې په قطر کې د افغان سولې اړوند تر اووم پړاو مذاکراتو مخکې بین الافغاني خبري پیل سي.

# د افغان ځواکونو بودیجه؛ امریکا پرې له مکسیکو سره دېوال رغوي

د روان کال په مارچ میاشت کې د امریکا پوځ د خپلې بودیجې یو میلیارد ډالر د دې دېوال د جوړولو لپاره بېل کړل، چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ یې پر جوړېدو ټینګار کوي، خو د کانګریس غړي یې سخت مخالف دي.

د امریکا دفاع وزارت سرپرست ویلي دي: ((دا پیسې له مختلفو سرچینو ترلاسه سوې، لکه سپما، په پروګرامونو کې بدلون او د پروژو بیا کتنه او په دې دلیل زموږ د ځواکونو پر توان ډېر کم اغېز کوي.))

نوموړی وايي، امریکا څلور زره پوځیان او ۱۹ الوتکې هم د مکسیکو پولې ته لېږدوي.

یو امریکایي چارواکي له رسنیو سره په خبرو کې ویلي دي، د امریکا لخوا افغان امنیتي ځواکونو ته ځانګړې سوي پیسې چې ۶۰۴ میلیونه ډالر کېږي د دېوال جوړلو ته ورکول کېږي.

په ۲۰۱۹ کال امریکا د افغان امنیتي ځواکونو د ملاتړ لپاره ۴،۹ میلیارد ډالر ځانګړې کړل.

دا چارواکي وايي، کومې پیسې چې له دې حساب ایستل کېږي د افغان امنیتي ځواکونو اړوند تړونونو کې له سپما ترلاسه سوي دي.

یو بل امریکایي چارواکي رسنیو ته ویلي: ((د دې پیسو بېلول له افغان امنیتي ځواکونو سره زموږ د ژمني ماتول نه دي، په حقیقت کې د ځینو پروژو لګښت زموږ تر ارزوني کم و.))

نوموړی وايي، دا کار د لومړي ځل لپاره کېږي چې امریکا د افغان امنیتي ځواکونو له پیسو ګټه اخلي.



له مکسیکو سره د دېوال جوړېدو موضوع ډېره جنجالي سوې ده، د امریکا ولسمشر یې پر جوړېدو ټینګار کوي، خو کانګریس یې ورسره نه مني.

ټاټوبی اوونیزه

ملي، خپلواکه، سیاسي، اجتماعي او کلتوري خپرونه

سرلیکنه

## آیا روانه جګړه پای ته رسېدونکې ده؟

ښایي د بهرنیو ځواکونو په وتلو سره روانه جګړه ختمه نه سي او ممکن افغانستان بیا د تیرو لسیزو ناخوالو، ستونزو او کړاونو ته وګرځي.

زیات شمېر افغانانو د جګړې له امله خپلې سیمې پرې ایښې او بیرته خپلو کلیو او بانډو ته د ستنېدو لپاره هیڅ زړه نه ښه کوي.

د آمریکا سرپرست دفاع وزیر پاټریک شاناهان هم ددغه وزارت چارواکي د مالي کال تر پایه افغانستان ته له سفر څخه منع کړل او په دې برخه کې یې د کانګرس له غړیو غوښتي دي، چې دا بندیز عملي کړي.

د آمریکا دفاع وزارت چارواکو ته د سفر دغه شاوخوا یو کلن وړاندیز داسې مهال سوی دی، چې طالبانو د روژې مبارکي میاشتي د پیل سره سم په کابل او د افغانستان په نورو سیمو کې خونړي بریدونه وکړل.

داسې نه ښکاري، چې د آمریکا کانګرس کې دې ددغه بندیز د وړاندیز هرکلی ډیموکراټان وکړي، نو ښایي د کانګرس د ډیموکراټانو او پنټاګون ترمنځ نوي لانجې ته لاره هواره سي، په ځانګړې ډول چې د امریکا پوځي چارواکو د روانې مې میاشتي پر ۱۰مه وویل، چې دوی د ۲۰۱۹ مالي کال له بودیجې څخه یو نیم میلیارد ډالر د مکسیکو سره پر پوله د دېوال جوړېدو ته ځانګړې کوي.

په اصل کې ددې پیسو تر نیمایي زیاته برخه په افغانستان کې د افغان آمنیتي ځواکونو د حمایت او د امریکایي ځواکونو د تقاعد د سیستم لپاره ځانګړې سوي وې. د آمریکا کانګرس کې ډیموکراتان اکثریت دي او د مکسیکو او آمریکا ترمنځ د دېوال له جوړېدو سره هم مخالفت کوي.

اوس داسې ښکاري، چې په افغانستان کې روانه تر ټولو اوږده او خونړۍ جګړه پای ته رسېدونکې ده. د طالبانو او آمریکا ترمنځ په لوړه کچه په وروستیو خبرو کې مهم پرمختګ ونه سو، خو دومره پرمختګ وسو، چې سولې ته شرایط آماده کړي. دا مهمه ده، چې طالبان او آمریکا د جګړې د دوو مهمو لوریو په توګه شپږم پړاو کې یو بل سره مخامخ خبري کوي. اوسمهال خو د جګړې ددغو دوو مهمو لوریو له مداخلې پرته بله سوله ییزه حل لار نه تر سترګو کیږي.

دې ته اړتیا سته، چې هر لوری یو څه له لاسه ورکړي، څو خپل اهداف ترلاسه کړي او د وینو د بهېدو مخه ونیول سي.

د افغانستان کورنیو چارو وزارت مرستیال خوشحال سعادت وايي، اوونۍ کې پنځه سوه او په میاشت کې دوه زره طالبان وژني، خو د طالبانو د مرکچي پلاوي مشر عباس ستانکزي بیا وايي، ترڅو بهرني ځواکونه له افغانستان څخه نه وي وتلي اوربند او بین الافغاني خبري نه سي کېدای. څوک په اوونۍ کې پنځه سوه طالبان وژني او څوک بیا د خپل ولس سره د مذاکراتو لپاره د بهرنیو پوځونو د وتلو شرط ږدي! نو دواړه د یوې سکې دوه مخونه بللی سو.

په هیواد کې د روانې خونړۍ جګړې لویه قرباني افغان ولس ورکوي او د هرې ورځې په تېرېدو یې برخلیک نور هم له واکه وځي.

مســؤل مدير:
عبدالحليم ((حلميار))
+93 (0) 795810083

مرستيال: عزت الله ذکي
+93 (0) 700484818

www.Tatobaynews.com
facebook.com/ tatobayn
tatobay@gmail.com

د یوې ګڼې بیه: (۲۰) افغانۍ
شپږ میاشتنی ګډون: (۵۰۰) افغانۍ
یو کلنی ګډون: (۱۰۰۰) افغانۍ

کـابل توزيع او اعلانات: +93 (0) 700890844
کـندهار اعلانات: +93 (0) 704803494
کـندهار تـوزيع: +93 (0) 700988408
هلمند توزیع او اعلانات: +93 (0) 744449816
زابـل توزيع او اعلانات: +93 (0) 702953132
ارزګان توزيع او اعلانات: +93 (0) 795244622

" د خـپل ديني مسوليت له مخي د اخبارونو پاڼي بې ځايه مه غـورځوئ.! "
« د ټاټوبي اوونيزې اداره »

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په کندهار کي د ماهیانو فارمونه؛ د کاله ٦ زره ټنه تولید لري



چي د کابل په ګډون ګڼو ولایتونو ته صادرېږي.
په کندهار کي د ماهیانو د فارمونو بنسټګر او د دې ولایت د مالدارۍ د ترویج مدیر انجنیر محمدالله نوري وایي، چي د ماهیانو د فارمونو جوړولو کیسه دلته نه ختمېږي، بلکي دا لړۍ په چټکۍ روانه ده. دی وایي، تر دې مهاله په کندهار کي د ماهیانو د روزني یو زر او ۵٦۳ فارمونه جوړ سوي چي ډېر یې په کندهار ښار، دامان، ډنډ، ارغنداب، شاولیکوټ، خاکرېز، سپین بولدک، ژیړۍ، پنجوایي، تخته پُل او میوند ولسوالیو کي دي.
ښاغلي نوري وویل، چي په کندهار کي د ماهیانو تر ټولو غټ فارم ۷۳ جریبه مساحت لري، چي په دامان ولسوالۍ کي جوړه سوی دی. هغه وایي، په کندهار کي د ماهیانو د صنعت پراختیا ته د خلکو لېوالتیا ورځ تربلي زیاتېږي، هغه له ۱۳۹۱ یم کال څخه تر دې دمه په کندهار کي د ماهیانو د فارمونو د شمېر په اړه وایي:
((په ۱۳۹۱ یم کال کي مو یواځي یو فارم درلود، په ۱۳۹۲ یم کال کي د فارمونو شمېر شپږو ته لوړ سو، په ۱۳۹۳ یم کال کي ۸۱ ته ورسېد، په ۱۳۹۴ کال کي یې شمېر ۱۴۳ ته ورسېد، په ۱۳۹۵ کي بیا ۷٦۵ ته لوړ سو، په ۱۳۹٦ کي یو زر او ۴۱۹ فارمونه جوړ سول، په ۱۳۹۷ یم کال کي یو زر او ۵۲۸ او په روان ۱۳۹۸ یم کال کي یې شمېر یو زر او ۵٦۳ ته ورسېد.))
نوموړي په کندهار کي د ماهیانو د فارمونو جوړولو کیسه له دې ځایه پیل کړه، چي په دغه ولایت کي د ماهیانو د فارمونو جوړولو چاري په ۱۳۸٦ لمریز کال کي د کندهار له ارغستان ولسوالۍ څخه پیل سو او وروسته په ۱۳۸۷ ام کال کي د دامان په ولسوالۍ کي په پنځه جریبه ځمکه کي د ماهیانو یو فارم جوړ سو او تر دې وروسته هم ګڼ شمېر فارمونه جوړ سول، خو ډېر دوام یې ونه کړ او تر ۱۳۹۰ لمریز کال پوري د بېلابېلو ستونزو له امله له ناکامۍ سره مخ سول.



نوري وایي، له دې وروسته یې په ۱۳۹۱ لمریز کال کي د ماهیانو لومړنی فارم جوړ کړ چي ورته درې زره قطعې ګراس، معمولي او سلورکارپ ماهیان راوړل او دا ماهیان په لومړي ځل په کندهار کي کامیابه سول، چي له همدې کال نه په کندهار کي د کامیابه فارمونو لړۍ پیل سوه.
د ده په خبره، د دغه فارم له بریالیتوب سره یې د خپلي تجربې او مشاهدې په رڼا کي سلګونو خلکو ته وړیا فني مشورې ورکړې او همدا د دې لامل سو چي په تېرو اتو کلونو کي دلته د ماهیانو د فارمونو شمېر تر یو زر او ۵٦۳ ته ورسېږي.
ښاغلي نوري وایي، چي په کندهار ولایت کي د ماهیانو د صنعت د پراختیا په پار یې ډېري هلي ځلي کړي، د ګاونډیو هیوادونو تجربې یې راوړې او یو شمېر کسان یې بهر ته د روزني او تجربې د ترلاسه کولو په پار استولي دي.
هغه وایي، په ۱۳۹۲ یم کال کي د مالدارۍ د مدیریت په غوښتنه د ماهیانو د اتحادیې رئیس حاجي عبیدالله د ایران له قونسلګرۍ سره په اړیکه کي سو، تر څو له ایران نه د ماهیانو نسل راوړي، خو ستونزو ته په کتو له ایران نه کندهار ته د ماهیانو د بچیانو واردول شوني نه وه.
نوموړی زیاتوي، چي په کندهار کي درې ډوله ماهیان «معمولي کارپ Common Carp، سلور یا سپین زر کارپ Silver Carp او واښه خوړونکي ګراس کارپ Grass Carp » روزل کېږي، چي ډېره ښه نتیجه یې ورکړې ده.
د ده په وینا، په یوه جریب فارم کي دوه زره ماهیان روزل کیدای سي، چي د کال ۴۰۰۰ کیلوګرامه غوښه تولیدوي، چي په ځینو فارمونو کي اوس ۱۵ کیلو یي ماهیان هم موجود دي.
د نوري په خبره په تېرو کلونو کي په کندهار ولایت کي د ماهیانو خامه غوښه کیلو په ۱۴۰ افغانۍ وه خو په ۱۳۹۷ یم کال کي د ماهیانو د ښه مارکیټینګ له وجهي د ماهیانو خامه غوښه ۲۳۰ افغانیو ته لوړه سوه، هغه وایي، د دې تر څنګ په دې برخه کي زرګونو کسانو ته د کارزمینه هم برابره سوې ده.
د ښاغلي نوري په خبره، په کندهار کي د ماهیانو د کاروبار په زیاتوالي سره په دې ولایت کي د ماهیانو په برخه کي درې شرکتونه او یوه اتحادیه هم فعالیت کوي.
د ماهیانو اتحادیه (د کندهار ولایت د ماهیانو دفارم لرونکو ټولنه)، چي په ۱۳۹٦ یم کال کي تاسیس سوې ده، په کندهار ولایت کي د کب روزونکو د ستونزو د هوارولو په پار فعالیت کوي.



همدا راز افغان کب شرکت هم په کندهار ولایت کي فعالیت لري، دغه شرکت د ماهیانو هیچري هم لري، چي د ماهیانو بچیان د کندهار ولایت تر څنګ د هیواد ۱٦ نورو ولایتونو ته صادروي، چي په کابل، فراه، هلمند ولایتونو او د موسی کلا په ولسوالۍ کي رسمي څانګي هم لري، یاد شرکت په کندهار کي په عصري بڼه ماهي پزي هم جوړه کړې ده، د ټولو جوړوسوو فارمونو غټ ماهیان همدغه شرکت پېري او بیا یې د کندهار، کابل، ننګرهار، زابل، هلمند، فراه او هرات په ولایتونو کي خرڅوي.
همدا راز د توریال کب شرکت، چي څو کاله مخکي یې د ماهیانو فارم جوړ کړی، دغه شرکت د کندهار په مرکز شهر نو کي د ماهیانو اساسي هیچري جوړه کړې، چي هم پر فارم لرونکو د ماهیانو بچي خرڅوي او هم د غټو ماهیانو د غوښي د خرڅلاو تجارت کوي. بل شرکت ابدالي کب شرکت دی، چي له ۱۳۸۸ ام کال څخه کندهار او نورو ولایتونو ته ماهیان راوړل، چي اوس د ماهیانو د غوښو تر څنګ د ماهیانو بچیان هم راوړي او بیا یې پر نورو شرکتونو او هټیوالو پلوري.
د کندهار د کرني، ابولګولو او مالدارۍ ریاست چارواکي وایي، چي په ۱۳۹۸ یم کال کي په دې ولایت کي د ماهیانو روزني د فارمونو د پراختیا په پار یو شمېر پروژې په پام کي نویل سوي دي، چي په دغو پروژو کي د ماهیانو د هیچري جوړول، د ماهیانو د ۲۷۰ زره بچیانو وېشل او د ماهیانو روزني ۱۲ بابه نوي فارمونه جوړول شامل دي. د دې تر څنګ په کندهار کي د ماهیانو د ناروغیو د تشخیص د یوه مجهز لابراټوار غوښتنه سوې او په دې ولایت کي د ماهیانو د انسټیټوټ د جوړولو په پار هم هلي ځلي سوي دي.
د چارواکو په خبره، که دلته د ماهیانو د فارمونو جوړولو لړۍ همداسي چټکه روانه وي، نو په نږدې راتلونکي کي به کندهار د ماهیانو په یوه لوی تولیدونکي ولایت بدل سي.
په افغانستان کي د کب روزني د فارمونو شمېر دوه زرو ته رسېږي، چي ډېری یې په کندهار، هلمند، ارزګان، ننګرهار، لغمان، بلخ او نیمروز ولایتونو کي شتون لري او له دغو فارمونو څخه په کال کي څه باندي ۱۰ زره ټنه ماهیان تولیدېږي.

# ځیني بهر مېشتي فېسبوکي منتقدین! علیه لعنه

عبدالحلیم حلمیار



زما د خبریال په خپلواکۍ، مشکلاتو او روزمره ستونزو نه دی خبر، زما د خبریال په اقتصادي حالت، فزیکي حالت، شعوري حالت، ذهني حالت او ټولنیز حالت نه دی خبر، خو ویښ ضمیر او پوره کار غواړي.
دوی لکه نور بهرنیان ملامت نه دي، په بهرنیو عینکو کي اصلاً افغانستان همداسي معلومېږي، ځکه خو عیني شاهدي او آوازې یو له بله په څرګند مغایرت کي دي. دا علیه لعنه پرته له دې، چي په حقایقو ځان خبر کړي، له حالاتو لېري بې روژې مردار مخ له خوبه تر را پاڅېدلو وروسته د تاوده پلو ترڅنګ د فېسبوک پر آوازو په پټو خوبوړو سترګو تصمیم نیسي، قضاوت کوي او بې خبره زما پر یو زحمت کښ او زیار کښ خبریال باندي د خبټي تعرض کوي.
کله زموږ خبریالانو ته ډالري خبریالان وایي، کله مو ماشیني خبریالان بولي او کله مو ......! جالبه ده! ددې خلګو قضاوت سړی حیران کړي.
باور وکړئ، دا نو زیاتره هغه کسان دا تعرض کوي، چي په افغانستان کي نېک نوم او د اوسېدلو ځای نه لري، ټول د خپل ماضي له لاسه تنبتېدلي او مستقبل یې په هماغه بهرنیو هېوادونو کي هم خراب دی او د څه وخت په تېرېدو سره به بیا بل هیواد ته تنبتي.
ددوی د خپلو اعمالو له امله کډه په شا ده، زړه هیڅ ځای هم سکون والله که ورکړي، خو بیا هم د خپل مضرتوب او مرې خبټي هواوي په دا ډول خبرو باسي. هغوی ته اوس نور څه نه دي پاته، توهین، ښکنځل، بیابي، بې آدبي، بې عزتي او هرچا ته لکه لیونی سپی حملې وهل یې اوس په روزانه اعتیاد مبدل سوی دی. دا خلګ په بهرنیو ډیسکټیکو او نایټ کلبونو کي د پیکو او بوتلانو سره ونښېدل، هره شپه په عېش او نوش کي ورقصېدل، نو د دوی به د سترګو اوبه چیري پاته وي؟
د دوی خو آبرو او عزت په هماغه اوله شپه په نایټ کلب کي دده بېچاره او علیه لعنه سره نور په مخه ښه وکړه.
کاش! دې خلکو د پت او عزت په نامه څه پېژندلای!
د زیاترو مېندي دلته فقر کوي، په کورونو ګرځي، خو زوی به یې په نایټ کلب کي د خپلي معشوقې ترڅنګ روسۍ ودکا ته ناست وي، پر افغان خبریالانو به تعرض کوي او د نظام پر ساختار به ږغېږي، ببړه دي غرقه سه!
د ظالم بچیه! ځان خبر کړه، سر را پورته کړه، مور دي دلته فقر شروع کړی او ته نقد ته ناست یې! ښه یې ویلي، چي د ځان اصلاح د جهان اصلاح ده. ګورئ! لومړی تاسي ځان اصلاح کړئ، مسلماني وپېژنئ او د نایټ کلب وخت د الله ج د کلام الله لوستلو ته وقف کړئ، د خپل مور او پلار غم وخورئ، ځان په اسلامي او شرعي عقیده سمبال کړئ او بیا که مو نو نقد کاوه. لومړی په حقایقو ځان خبر کړئ او بیا نقد وکړئ، اوس خو ما مخکي هم وویل، چي ځیني بهر مېشتي به په افغانستان کي د خپل مور په وضعیت نه وي خبر، خو پر هر څه به ناخبره او د ګېډې انتقاد کوي.
د کندهار خبریالان او په ضمن کي د ټول افغانستان خبریالان په ډېرو سختو شرایطو کي کار کوي. د خپلو سرونو په نذرانه کولو سره خپلو هیوادوالو ته مالومات ورکوي، هره ورځ وژل کېږي، تهدیدېږي، تحقیرېږي او قرباني ورکوي، نو که چیري د افغان خبریالانو د تشویق لپاره څه ونه لرئ، نو لطفا بې ځایه او د حقایقو څخه لېري یې مه توهینوئ.
ځکه دا عمل د خبریالانو په وړاندي بې انصافي او بې عدالتي ده.
هغه کسان چي په خارج کي ناست دي او زما پر خبریال نقد کوي، د هغه ضمیر دومره مړ او بې غېرته دی، چي دلته کار هم نه سي کولای، خپل مړه ضمیر او بې غېرتیا تر خارجه رسولی دی. تاسي راسئ د کار په محل کي زما د خبریال ترڅنګ کښېنئ او بیا دا خبري وکړئ، تاسي خو لږ د خپل ګرلفرینډې د څنګ نه راولاړ سئ، پښې مو له دې تودې بسترې راوباسئ او بیا زما د خبریال پر کار نقد وکړئ.
آیا تاسي زما د خبریال د مشکلاتو پوښتنه کړې ده؟
د حق الزحمې څخه یې خبر یاست؟
د کاري چاپېریال ستونزي مو مشاهده کړي دي؟
که هسې مو د انتقاد اورېدلي دي! لعنت دي ستاسي په پوهې، سیاسي او عملي درک وي.
تاسي خو نمک سار ته د انسانیت زده کړې لپاره استول سوي واست، تاسي خو انسان او انسانیت و شرماوه.
زما خبریال د وخت غازي، آتل او مجاهد دی، چي شپه او ورځ یې پر ځان یوه کړې ده، سوځي، ویلیږي او کرېږي، خو د خپل جد و جهد له امله تاته دقیق، پر وخت او پر حقایقو ولاړ ورځني معلومات وړاندي کوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





# پـه انلاين ډول د انتخاباتو تر سره کول څنګه ارزوی؟

## نذير رښتيني

### د پوهنتون استاد



په دغه زماني مقطع کي ملتونه خپل مشر او رهبر يوازي د رايو په ورکړي سره ټاکي. د رايي ورکولو مختلف ډولونه په بېلابېلو ټولنو کي د روڼتيا له اصله ډول - ډول دي، ولي پس پاتي ټولني او سترړي ولسونه يې د کاغذ پر مخ ټاکي؛ لکه زموږ افغان ولسونه.

که چېري مو ملت خپلواک او د بل ځواکمن سياسي هيواد تر قيادت لاندي نه وي، نو د کاغذ د ټاکنو شفافيت هم چنداني بد نه وي او که چېري مو ولسونه د بل هيواد تر سياسي نفوذ لاندي وي، بيا خو نو د امريکا غوندي پياوړي سياسي هيواد په الکترونيکي انتخاباتو کي هم لاسوهنه کېدای سي. د هيلري کلينټن او ډونالډ ټرمپ تر منځ د ولسمشرۍ په ټاکنو کي شوروی تورن دی. اوس چي ويل کېږي په افغانستان کي هم دا ځل الکترونيکي ټاکني ترسره کېږي، نو زه يې په پيل کي لا دا چاره مثبته ارزوم، ځکه لږ تر لږه دوني خو به سي چي په دغه بهير کي په شکلي لحاظ څه پرمختګ راسي. د افغانستان د دغي پېړۍ شرايط فکر کوم دا نه ايجابوي، چي اوس دي انټرنيټي او يا بريښنايي ټاکني پکي ترسره سي.

ولس مو بې سواده دی، ژر په دغه مرحلو پوهېدل ورته ګرانه خبره ده، سيمي مو ناامنه دي، په ځينو سيمو کي خو مخکي هغه کاغذي ټاکني لا نه سوای کېدلای، ځکه هري سيمي ته د انټرنيټ او بريښنايي امکاناتو لېږدول او چمتو کول هم ناممکنه بريښي. بل د تخنيکي ټيم ټرينول او هغوی په دې پوهول چي د تېرو پارلماني ټاکنو ستونزي بيا تکرار نه سي، چي تر نيمي ورځي پوري د رايو ورکولو محلونه بند وو. زه فکر کوم، که دغه ټول امکانات او شرايط اماد او بدلون ومومي، نو کېدلای سي چي نسبتاً په هيواد کي بريالۍ ټاکني ترسره سي.

## محمد آغا

### د کندهار پوهنتون يو تن محصل



زه با يد دومره ووايم چي د انټرنيټ په مټ او په انلاين ډول انتخابات د پرمختللو هيوادونو او پرمختللي نړۍ کار دی. موږ او تاسو وليدل چي د تېرو پارلماني ټاکنو پر مهال، د ټاکنو په ورځ په يا ده پروسه کي يوازي بايومتريک سيستم څومره مشکلات رامنځ ته کړل،! هغه په دې چي زموږ افغانانو لپاره دا هر څه نوي وو او آن خپله د کمېسيون د کارکوونکو لپاره د دې آلې استعمال يوه ستونزمنه چاره وه. په افغانستان کي چي خلکو د ټاکنو سره خاص بلديت هم نه درلود، نو د بايومتريک تکنالوجۍ په اضافه کولو سره يې ستونزي نوري هم ډېري سوې او په دې سره ويل کېدل چي لا هم درغليو ته لاره خلاصه سوله. له بله پلوه، په افغانستان کي له مخابراتي شبکو څخه خلک خوشحال نه دي، په ځينو سيمو او لېري پرتو ولسواليو کي انټرنيټ خو پرېږده، د تليفون خبري لا امکان نه لري، نو هلته به په اوسني وخت کي په انلاين ډول څنګه ولسمشريزي ټاکني ترسره سي او په څه ډول سره به ټاکني ممکني سي.؟

دا ښکاره خبره ده، چي موږ افغانان به د شفافو او رڼو انتخاباتو په پايله کي وکولای سو چي خپل سرنوشت په ښه ډول سره وټاکو، خو په انلاين ډول سره د ولسمشريزو ټاکنو ترسره کېدل په اوسني ضعيف او ناتوانه شرايطو کي چي ډېری هيوادوال مو د سخت غربت سره لاس او ګرېوان دي، ناممکن بولم.

## شاه اغا اکرمي

### د سياسي چارو کارپوه



په انلاين ډول د انتخاباتو ترسره کول زما په نظر يو ښه اقدام دی، هغه ځکه چي د يو شخص ټول مکمل معلومات او د هغه د ګوتي نښه په کمپيوټر کي ثبتېږي او د رايي اچوني په ورځ فقط يو کس يوازي د يوې رايي ورکولو حق لري، چي په دې سره په ټاکنو کي تر ډېره د درغليو مخه هم نيول کېږي. خو ځکه به دا پروسه په انلاين ډول ترسره نه سي، چي يو خو ټاکنو ته لږ وخت پاته دی او له بلي خوا څخه دا درېيم ځل دی چي د ټاکنو خپلواک کمېسيون د ولسمشريزو ټاکنو نېټه ځنډوي او په ضمن کي وايي، چي موږ په کافي اندازه امکانات او وخت په واک کي نه لرو، نو ځکه زه وايم چي دا پروسه به هم عملي نه سي ځکه چي نن موږ ګورو چي د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کي خلګ حتی مخابراتي خدماتو ته لاسرسی نه لري، ځکه چي هلته مخابراتي شبکې د امنيت د خرابوالي له کبله فعاليت نه سي کولای، نو هلته به انټرنيټ څنګه کار وکړي او همدا راز بايد وويل سي چي د دې سيستم سره دخلکو نابلدتيا يوه بله ستونزه ده، هغه داسي چي په تېرو ټاکنو کي موږ وليدل چي اکثره د بايومتريک ماشينونه يا خراب وو او يا يې هم کارکوونکي سم نه پرې پوهيدل او دا ملي پروسه يې د ځنډ او ځنډ سره مخامخ کړل، خو بيا هم که چېري په انلاين ډول دوی دا ټاکني ترسره کړي، نو بايد له تېرو ټاکنو څخه دوی عبرت واخلي او خپلي هغه ټولي خلاګاني او نواقصات بايد اصلاح کړي او د رايي ورکوونکو ليست بايد په يو ښه ميکانيزم سره برابر کړي، هغه داسي چي کوم څوک چي په انلاين ډول ثبت نام کوي، هغه بايد د ټاکنو په ورځ دا تشويش ونه لري، چي زما نوم به د ټاکنو په ورځ په ليست کي نه وي او له بلي خوا د ټاکنو کمېسيون بايد خپل کارمندانو ته ټول هغه تخنيکي وسايل ورزده کړي، تر څو د کار په جريان کي له کومي ستونزي سره مخامخ نه سي. او همدارنګه د بريښنا نه شتون هم يو بل سرخوږی دی، که چېري بريښنا هم موجوده نه وي، نو د دغي پروسې ترسره کول به نا ممکنه وي.

## فيصل جبارخېل

### مدني فعال



په انلاين ډول د ټاکنو ترسره کول په هغو هيوادونو کي شوني او ترسره کيږي په کومو هيوادونو کي چي پرمختګ په لوړ کچه او له هري برخي څخه کاملاً مطمين وي. انلاين ټاکني ډېري ګټي لري، چي يو څو يې په لاندي ډول ذکر کوو: لومړی د وخت د کمښت له امله- يعني وخت پکي ډېر کم نيول کېږي او په لنډه موده کي سته نتيجه ټولو هيوادوالو ته پلاس راځي. دوهم، د بې ځايه مصارفو مخنيوی- په دې ډول ټاکنو کي بې ځايه مصارف صورت نه نيسي او په کم لګښت ټاکني ترسره کېږي. درېيم - د سهولت له پلوه- په دې ډول ټاکنو کي هيوادوال له ډېر سهولت او اسانتياوو څخه برخمن وي، کوم چي له هر ځای څخه په اسانه ډول سره خپله رايه کارولای سي. څلورم: د شفافيت له حيثه:- دا ډول ټاکني ډېري شفافي وي، ځکه هر څه په سيستم کي موجود وي، د تقلب چانس ډېر کم دی. پنځم: د اقتصاد له حيثه:- د اقتصاد له حيثه هم دا ډول ټاکني هيواد ته ډېر ګټوري دي او د دې پر ځای چي پر ټاکنو باندي ډېر لګښت راسي، دا بوديجه د هيواد په بل ځای کي د پرمختګ په نيت په مصرف رسول کېږي.

## احمدشاه پاځون

### ليکوال



په نړۍ کي د ټاکنو معاصر او مروج ډول الکټرونيکي دی، چي دا ډول ټاکني تر نورو هغو ډولونو شفافي، چټکي او اقتصادي هم وي، مګر افغانستان لا تر اوسه دا ډول ټاکني نه دي تجربه کړي. دا هم جوته ده، چي د رايو پاڼو او صدوق ټاکني هر ځل له پراخو درغليو سره مل وي. يوازي دا نه، د ټاکنو پر دې ملي پروسه دومره لوړ مصارف ترسره کېږي چي له نړيوالو مرستو پرته يې ترسره کول د افغانانو او افغان دولت له توانه پورته ګڼل کېږي.

که وکتل سي، نو افغان دولت د ټاکنو پر مهال لوړ مصارف کوي، لومړۍ درجه امنيت نيول کېږي، په ټول هيواد کي ملکي، ټرانسپورټي، ټولنيزي او اقتصادي چاري په ټپه درېږي او امنيتي تهديدونه هم تر نورو وختونو زياتېږي.


کله چي تر دې دومره قربانيو وروسته بيا هم په ټاکنو کي درغلي کېږي، پايلي يې تر پوښتني لاندي راځي او دې ډول سره نو ملت هم مايوسه کېږي او د ټاکنو رواج او درباندي باور نور هم پيکه کېږي.

افغان دولت ته پکار ده، چي د ټاکنو د روڼوالي يا شفافيت لپاره کوټلي ګامونه پورته کړي، چي ښه بديل يې الکټرونيکي انلاين ټاکني دي. دا کار به يوازي دا نه، چي د ټاکنو شفافيت به تضمين کړي، بلکي د خلکو باور به هم پر ټاکنيزه پروسه پياوړی سي او همدا راز به افغان دولت د ټاکنو لپاره د پخوا په پرتله څو برابره کم پرسونل ته اړتيا ولري او همدا راز به د ټاکنو کمېسيون لږو وسايلو ته اړتيا ولري، چي انتقال، ساتنه او کارونه يې اسانه او چټکه وي.

بله ګټه به يې دا وي، چي د ټاکنو پايلي به ژر اعلان سي، دلته چي د ټاکنو او د پايلو د اعلان تر منځ مياشتي وخت تېر سي، خپله پروسه تر شکونو لاندي راسي. لنډه دا چي افغان دولت چي کوم مصارف پر پرسونل، وسايلو، انتقال او نورو لوازمو کوي، هغه مصرف دي د ټاکنيز بهير پر بريښنايز کولو مصرف کړي. مطلب دا خبره هم بايد له ياده و نه باسو، چي هر ډول الکټرونيکي سيستم هم له خطره خالي نه دی، درغلي کوونکي او درغلي غوښتونکي په هر غر کي لاره باسي، هسي نه د انلاين ټاکنو پايلي تر نورو بتري راووځي.

## عبدالحی ډاډمن

### مدني فعال



دا چي د ټاکنو خپلواک کمېسيون په دې وروستيو کي ويلي، چي راتلونکي ټاکني به د انټرنيټ په مټ ترسره کړو، مناسبه او د قناعت وړ خبره نه ده، ځکه افغانستان چي د ټکنالوژۍ او پرمختيايي تحولاتو څخه بې برخي هيواد دی، د وګړو زياته برخه يې د علم او پوهي له نعمت څخه بې برخي ده او وګړي يې د نننۍ نړۍ له پرمختيا او ټکنالوژۍ څخه محروم دي.

حال دا چي د افغانستان د وګړو ۷۰ سلنه برخه د لېري پرتو سيمو څخه تشکيل سوې ده او د لېري پرتو سيمو وګړو لاسرسی انټرنيټ ته څه چي په پېژندلو کي يې هم ستونزه لري. د دې هېواد اکثريت وګړي د هيواد په ګوټ-ګوټ او مختلفو سيمو کي ژوند کوي او د يادو لېرو پرتو سيمو اوسېدونکو د افغانستان په ودانولو او ساتلو کي رغنده رول لوبولی دی. همدارنګه پر افغانستان د يرغلونو په مقابل کي د لېري پرتو سيمو اوسېدونکو قربانۍ ورکړي او په دې هيواد کي يې نه هېرېدونکي خدمتونه کړي دي. د انټرنيټ په مټ راتلونکو ټاکنو به نه يوازي د لېرو پرتو سيمو د وګړو حقوق تر پښو لاندي کړي وي او له بل پلوه به مو راتلونکي ټاکني تر سوال لاندي راغلي وي. د انټرنيټ په مټ راتلونکي ټاکني به هيواد ته له سياسي اړخه ضرر ورسوي، شفافي او رڼې ټاکني د انټرنيټ په مټ نه سو ترلاسه کولای، ځکه چي د افغانستان زياتره وګړي انټرنيټ ته لاسرسی نه لري، احتمال د دې سته چي د لېرو پرتو سيمو د اوسېدونکو پر ځای نور کسان د ټاکنو حقوق لاندي کړي او ټاکنو ته د درغلۍ زمينه مساعده کړل سي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





# څنگه په روژه کې د قرآن کریم ختم وکړم؟

نن خلک ټول د ژوند په کارونو مصروفه دي، ځوک وخت نه لري چې تلاوت وکړي، ځوک بیا اراده لري چې تلاوت وکړي، موقع په لاس نه ورځي.

ځوک بیا هم وخت لري او هم د تلاوت کولو موقع په لاس ورسي، خو تر څو دقیقو تلاوت وروسته ستړی سي او بیا په ورځو ورځو قرآن کریم نه را خلاصوي. ددې لپاره یوه داسي طریقه پکار ده چې په مټ باندي ئې موږ کولای سو، ډېر به اسانه سره ځان د قرآن کریم په تلاوت عادت کړو او هره ورځ بیا دغه عادت په ډېره اسانۍ سره تر سره کړو.

د قرآن کریم د حروفو اندازه (Font size) چې نن دنیا کي رواج دی، یو قرآن کریم تقریبا د ۵۵۰ څخه تر ٦۵۰ صفحي کیږي. راسئ، موږ به یو قرآن کریم ٦۰۰ صفحي ونیسو.

که دغه ٦۰۰ صفحي د میاشتي پر ۳۰ ورځو باندي وویشل سي، نو په یوه ورځ کي به ۲۰ صفحي تلاوت سي، او که دغه د یوې ورځې ۲۰ صفحي تلاوت پر پنځو لمونځونو باندي وویشل سي، نو د هر لمانځه سره به یوازي څلور صفحي تلاوت سي.

پایله: اوس که تاسي غواړئ، چي په میاشت کي یو قرآن کریم ختم کړی، نو د هر لمانځه مخکي یا وروسته یوازي څلور صفحی د قرآن کریم تلاوت کوی او که غواړی، چي دوه ختمونه د قرآن کریم وکړی، نو بیا څلور صفحي تر لمانځه مخکي او څلور صفحې وروسته تر لمانځه او دا عادت به راباندي سخت کیږي هم نه، ځکه لږ دی.نورو مومنو ورونو سره یې هم شریک کړئ!

# له پنده ډکه کیسه!



وایي چې سلطان محمود غزنوي خپل ورور بهلول ته وویل، چې ولاړ شه د قصابانو د ترازو تیرې، چې غوښه پرې تلي، وگوره که د چا ډېره کمه وه، له ځانه سره یې راوله، چې سزا ورکړو.

بهلول ومنله، بازار ته روان شو، د اول قصاب تیږه یې چې وکتله ډېره کمه وه، له قصابه یې پوښتنه وکړه، ژوند دې څنگه تېرېږي؟

قصاب وویل، نن وي که سبا خلک به واوري، چې دا چاړه به مې په خپله سینه کي ننه ایستلې وي، له ژونده دومره په تنگ یم!

بهلول ترې روان شو، د دویم قصاب کاڼی چې یې وکتی، دغه هم تر خپلې اندازې یو څه کم وه.

بهلول پوښتنه ترې وکړه، ژوند دې څنگه تېرېږي؟

قصاب په ژړا شو، ویې ویل کاشکي الله (ج) ببخي نه وای پیدا کړی، ډېر خراب، ستړی، نارامه او بې‌عزته ژوند مې دی! بهلول ترې روان شو، د درېیم قصاب تیږه یې وکتله، چې وزن یې پوره و.

له قصابه یې وپوښتل؛ ژوند دې څنگه تېرېږي؟

قصاب وویل؛ شکر الحمدلله ډېر ښه ژوند مې دی، تر ډېرو خلکو مې اولادونه، ښځه، کور، مال او ملک ښه دی، ډېر خوشاله یم!

بهلول ترې روان شو، کله چې سلطان محمود ته ورسېد، سلطان ترې پوښتنه وکړه؛ د قصابانو تیږې څنگه وې؟

بهلول وویل؛ د یو څو قصابانو تیږې کمې وې!

سلطان وویل؛ نو ولې دې رانه وستل، چې سزا مو ورکړې وای؟ بهلول وویل؛ الله (ج) سزا ورکوله، د چا چې تیږې کمې وې، ښه ورځ یې نه درلوده.

نن ورځ چې د مسلمانانو حالات په دنیا کي سم نه دي، همدې ته ورته داستانونه لري، اکثریت خلک مو په دنیوي ژوند کې صادق، رښتیني او صفا زړونه نه لري.

# روژه ماتی په خُرما سره کول



لیکنه او څېړنه: عبدالغفار جُبیر

فخرالموجودات صلی الله علیه وسلم د روژه ماتی حکم په خُرما او اوبو سره فرمایلې دی، دا چې خُرما یو انسان ته څومره ارزښت لري او ولې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورباندې ټینگار کړی دی؛ نو دا موضوع به څه وروسته جوته شي. اوس دلته موږ غواړو چې خُرما په قرانکریم، احادیثو او ساینس کې وڅېړو، ترڅو د خرما په ارزښت ځانونه پوه کړو.

خُرما په قران کې: د خُرما ذکر د قرانکریم ډېر مختلف ځایونه راغلی دی چې لړلیک ئې په داسې شیان سره دی:

أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ أَنْ تَكُونَ لَهُ جَنَّةٌ مِنْ نَخِيلٍ وَأَعْنَاب تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ لَهُ فِيهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ (البقره ۲٦٦)

۱: آیا له تاسو څخه کوم یو دا خوښوي چې د خُرما او انگورو باغ ولري چې تر ونو لاندی یې ویالې بهیږي او هرډول مېوې پکښې وي؟

وَهُوَ الَّذِي أَنْشَأَ جَنَّات مَعْرُوشَات وَغَيْرَ مَعْرُوشَات وَالنَّخْلَ وَالزَّرْعَ مُخْتَلِفًا أُكُلُهُ وَالزَّيْتُونَ وَالرُّمَّانَ مُتَشَابِهًا وَغَيْرَ مُتَشَابِهٍ۴((الانعام (۱۴۱)

۲: او دی هغه ذات دی چې څپر لرونکي باغونه او بې څپره باغونه یې پیدا کړي دي او د خُرماوو باغونه او کښتونه یې د بېلا بېلو میوو سره چې له زیتون او انار سره ورته دي او ورته نه دي، پیدا کړی دي.

وَمِنَ النَّخْلِ مِنْ طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ۔(الانعام (۹۹

۲: او له خُرما څخه د هغه له غوټۍ څخه (دهغه دزیات حاصل له کبله) ځمکې ته نژدې وږی راباسو.

وَاضْرِبْ لَهُمْ مَثَلًا رَجُلَيْنِ جَعَلْنَا لِأَحَدِهِمَا جَنَّتَيْنِ مِنْ أَعْنَابٍ وَحَفَفْنَاهُمَا بِنَخْلٍ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمَا زَرْعًا۔(الکهف ۳۲)

۴: او دوی ته د دوو سړیو بېلگه بیان کړه چې یوه ته مو د انگورو دوه باغونه ورکړل او هغه مو د خُرماو په ونو سره چاپېره کړل، او د دغو دواړو ترمینځ مو کښت پیدا کړ.

وَزُرُوعٍ وَنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيمٌ (الشعراء ۱۴۸)

۵: او په دغو کښتونو او د خُرماو په بڼونو کښې چې وږي ئې له باره ډک دی؟۔

وَالنَّخْلَ بَاسِقَاتٍ لَهَا طَلْعٌ نَضِيدٌ۔(سورت ق ۱۰)

٦: او د خُرماوو دنگې دنگې ونې مو پیداکړې دي چې د هغو له میوو ډک وږي یو پر بل پراته دی.

فِيهَا فَاكِهَةٌ وَالنَّخْلُ ذَاتُ الْأَكْمَامِ (الرحمن ۱۱)

۷: په هغې کې (بېلا بېلې) میوې او دخُرماوغوټۍ لرونکې ونې دي.

فِيهِمَا فَاكِهَةٌ وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ (الرحمن ٦٨)

۸: په هغو کې هر ډول خوندورې میوې، خُرما او انار دي.

وَزَيْتُونًا وَنَخْلًا (عبس ۲۹)

۹: او زیتون او خُرماوې

وَفِي الْأَرْضِ قِطَعٌ مُتَجَاوِرَاتٌ وَجَنَّاتٌ مِنْ أَعْنَابٍ وَزَرْعٌ وَنَخِيلٌ (الرعد ۴)

۱۰: او په ځمکه کې (بېلا بېلې) سیمې څنگ پر څنگ پرتې دي او د انگورو باغونه او کروندې او د خُرماوو ونې۔

يُنْبِتُ لَكُمْ بِهِ الزَّرْعَ وَالزَّيْتُونَ وَالنَّخِيلَ وَالْأَعْنَاب وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ۳Î ۔(النحل ۱۱)

۱۱: په دغه (اوبو) ستاسې لپاره غلې او زیتون (ښوون) او خُرماوې او انگوراو هر ډول میوې زرغونوي.

وَمِنْ ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالْأَعْنَابِ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَرًا وَرِزْقًا حَسَنًا إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ (النحل ٦٧)

۱۲: او د خُرماو د ونو او انگورو د تاکونو د مېوو له شیرو څخه هم یو شی په تاسې څښو

أَوْ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٌ مِنْ نَخِيلٍ وَعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ الْأَنْهَارَ خِلَالَهَا تَفْجِيرًا (بنی اسرائیل ۹۱)

۱۳: یا تا ته د خُرماوو یا انگورو باغ وي، د هغه په مینځ کې له اوبو څخه ډکې ویالې جاري کړې.

فَأَنْشَأْنَا لَكُمْ بِهِ جَنَّات مِنْ نَخِيلٍ وَأَعْنَابٍ لَكُمْ فِيهَا فَوَاكِهُ كَثِيرَةٌ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ (المومنون ۱۹)

۱۴: نو د هغو اوبو په وسیله موږ ستاسې لپاره د خُرماو او انگورو باغونه پیدا کړل، ستاسې لپاره په دغو باغونو کښې ډېرې خوندورې میوې دي او له هغو نه تاسې خورئ.



وَجَعَلْنَا فِيهَا جَنَّاتٍ مِنْ نَخِيلٍ وَأَعْنَابٍ وَفَجَّرْنَا فِيهَا مِنَ الْعُيُونِ (یس ۳۴)

۱۵: او په هغو کې مو د خُرماوو او انگورو له ونو څخه باغونه جوړکړی او په هغو کې مو چېنې جارې کړی دي.

فِيهِمَا فَاكِهَةٌ وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ (الرحمن ٦٨)

۱٦: په هغو کې هر ډول خوندورې میوې، (لکه) خُرماوې او انار دي.

وَهُزِّي إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسَاقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا (مریم ۲۵)


۱۷: او وخنډه خپل ځانته ببخ د خُرما، چې راتوی کاندې پر تا خُرما پخې لندې تازه۔

فَكُلِي وَاشْرَبِي وَقَرِّي عَيْنًا( (مریم ۲٦)

۱۸: پس خوره (دا خُرما) او څښه (دا اوبه) او (رڼې) یخې کړه سترگې خپلې (په عیسی اوخوشحاله شه)۔

او همدار نگه په (طه ۷۱)، (القمر ۲۰)، (الحاقه ۲۰) کې د خُرما یادونه شوې ده.

دلته که موږ د خُرماو ارزښت ته وگور؛ نو دا راته جوتیږي چې په دغه وخت کې حضرت بی بی مریم رضی الله عنها په نس کې چې حضرت عیسی علیه السلام ؤ او خدای جل جلاله ورته د داسې شي (خُرما) د خوراک امر وکړ چې یقینا د دې لپاره کېمیا وه، که چیرې له خُرما پرته، بله غذا بی بی مریم رضی الله عنها ته په دغه وخت کې غوره وای؛ نو الله جل جلاله به ورته ویلې وای، لکه چې په حدیث شریف کې هم داسې راځی، الله جل جلاله ته ترخُرما بل شی غوره نه ؤ، نو ځکه یې دخُرما دخوړلو امر ورته وکړ او له دې ایات څخه دا خبره جوته شوه، چې د یو انسان لپاره خُرما پوره غذا او دوا ده. نوربیا...















ژباړه: عزت الله ذکي


















۱: آلحرام مسجد – آلحرام مسجد د نړۍ تر ټولو لوی او ستر مسجد دی، چي پر یوه وخت پکي یو نیم میلیون کسان عبادت کولای سي.
د نړۍ دغه ستر او لوی مسجد د سعودي عربستان مکه ښار کي په ۳۵٦ زره متره مربع مځکه کي اعمار سوی او یوه برخه کي یې بیت الله شریف هم واقع ده، چي هرکال په میلیونو حاجیان هم ورځي.

۲: نبوي مسجد – نبوي مسجد په نړیواله کچه دویم تر ټولو لوی مسجد دی، چي پر یوه وخت پکي یو میلیون کسان عبادت کولای سي. نبوي مسجد د فخر الموجودات او سرور کاینات حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم روضه او آرامگاه هم ده، چي د سعودي عربستان مدینه ښار کي په ۳۸۴ زره متره مربع مځکه کي اعمار سوی دی.

۳: استقلال مسجد – استقلال مسجد د اندونیزیا له اوله درجه لویو مسجدونو څخه شمېرل کیږي، چي ددغه هیواد په پلازمېنه جاکارتا کي موقعیت لري. دغه لوی مسجد کي پر یوه مهال ۲۰۰ زره نفر عبادت کولای سي.

۴: تاج المسجد – تاج المسجد د هندوستان یو له لویو مسجدونو څخه دی، چي ددغه هیواد بهوپال آیالت کي موقعیت لري. دغه لوی مسجد په ۴ سوه زره متره مربع مځکه کي اعمار سوی، چي په یوه وخت کي ۱۷۵ زره تنه پکي عبادت کولای سي.

۵: آلجزایر مسجد – آلجزایر مسجد د آلجریا یو له لویو مسجدونو څخه دی، چي پر یوه مهال پکي ۱۲۰ زره کسان عبادت کولای سي. دغه لوی مسجد د آلجریا پلازمېنه آلجزایر کي په ۲۰ زره متره مربع مځکه کي اعمار سوی، چي رغنیزي چاري یې لاهم دوام لري.

٦: آلحسن ثاني مسجد – آلحسن ثاني مسجد د مراکش یو له لویو مسجدونو څخه گڼل کیږي، چي هممهاله پکي ۱۰۵ زره تنه عبادت کولای سي. یاد لوی مسجد د مراکش کاسابلانکا کي په ۱۹۹۳م کال کي اعمار سوی دی.

۷: بادشاهي مسجد – بادشاهي مسجد د پاکستان یو له لویو مسجدونو څخه دی، چي د لاهور ښار یو څنډه کي موقعیت لري او په یوه وخت پکي ۱۰۰ زره کسان عبادت کولای سي.

۸: آلاکبر مسجد – آلاکبر مسجد د اندونیزیا دویم لوی مسجد دی، چي ددغه هیواد سورابیا ښار کي موقعیت لري او هممهاله پکي ۵۹ زره تنه عبادت کولای سي.

۹: بیت المکرم ملي مسجد – بیت المکرم ملي مسجد د بنگله دېش لومړی لوی او په نړیواله کچه لسم لوی مسجد دی، چي ددغه هیواد پلازمېنه ډهکه کي موقیت لري.
یاد لوی مسجد په ۲۹ زره متره مربع مځکه کي اعمار سوی او پر یوه مهال پکي شاوخوا ۴۰ زره تنه عبادت کولای سي.

۱۰: شیخ زاید مسجد – شیخ زاید مسجد د عربي متحده آماراتو تر ټولو لوی مسجد دی، چي ددغه هیواد ابوظبۍ کي په ۱۷ زره متره مربع مځکه کي اعمار سوی او په یوه وخت کي د ۴۱ زره عبادت کوونکو ظرفیت لري.




د چاپېریال په اړه اندېښني او ورسره تړلي روغتیایي فکتورنو او اغېز یې د دې سبب سوی چي انسانان په خپلو ورځنیو خوړو کي د غوښي او د نورو حیواني تولیداتو او محصولاتو پر ځای سبو ته مخه کړي.
د دې لپاره چي په سبو یا تر کارۍ د غوښي مینه ماته سوې وي، اوس ماهرین له سبو څخه جوړه غوښه اصلي غوښي ته په ورته بڼه چمتو کوي.
ماهرین وایي، دا د غوښي بوي لري، د غوښې په څېر سور رنگ لري او ان خوند یې هم د غوښې غوندې دی. دغه راز خوراکي تولیدات بازارته وړاندې سوي دي او ساینس پوهان هڅه کوي چي دغه مواد په لابراتوارونو کي هم تولید کړي.
د دغې غوښي لومړی ډول یې له بوټو جوړه سوې چي دا ډول له وړاندې په رستورانونو او پلورنځیو کي سته. رپوټونو کي ویل شوي، د دې تولیداتو مخ پر ودې بازار ارزښت څلور اعشاریه شپږ میلیارده ډالرو ته رسېږي.
تېره اونۍ د یوه امریکایي شرکت Beyond Meat، یا له غوښې هاخوا شرکت ارزښت درې اعشاریه اته میلیاردو ډالرو ته ورسېد. له بوټیو جوړه غوښه په داسې توگه چمتو سوې چي اصلي غوښې ته خورا زیاته ورته ده او کله چي خوړل کیږي له اصلي غوښې سره یې توپیر نه سي کیدای.
دغه غوښه د غنمو، پتاټو او نخودو په گډون د ځینې بوټیو او دانو له پروټیني برخو چمتو کېږي. دویم ډول مصنوعي غوښه چي د پاکي غوښې یا کلچر غوښي په نامه یادېږي، د حیواناتو له بنسټیزو ژوڼکو یا حجرو څخه جوړېږي. دغو ژوڼکو ته په لابراتوار کي وده ورکول کېږي او د تولید پروسه یې هغې ساینسي پروسې ته ورته ده چي د ټیشوز او نورو غړو په تولید کي ورنه کار اخیستل کېږي.
د دغه ډول تولید لپاره د بنسټیزو ژوڼکو استعمال اجازه ترلاسه کول یوه ننگونه بلل کېږي. ماهرین وایي، که د خوړو خوندیتوب اداري اجازه ورکړي، ښایي راتلونکو دوو کلونو کي دغسي غوښه د اروپا بازارونو ته وړاندې سي، خو د امریکا په متحدو ایالاتونو کي ښایي دغه پروسه یو څه زیات وخت واخلي.







د ایټالیا په ابروزو سیمه کي د مارانو مېله جوړېږي، دا مېله په داسي شکل جوړېږي چي د یو مذهبي مشر د بت په غاړه کي ژوندي ماران اچول کېږي.
د رسنیو د راپورونو په حواله، د ایټالیا په کوکیولو نومي لرغونی کلي دی چي دا مېله پکي هر کال جوړېږي. ځایي اوسېدونکي د مذهبي مشر لگین بت جوړوي او په غاړه کي ورته ژوندي ماران اچوي، بیا یې په کوڅو کي گرځوي.
دغي مېلې ته د سیرپاري نوم ورکړل سوی دی، چي د مذهبي مشر سان دومینیکو دي سورا په یاد ترسره کېږي.
د نوموړي په اړه د سیمي خلکو باور دا دی چي ۱۱ زېږدیزه پېړۍ کي یې د معجزې په توگه د سیمي له کروندو ماران لبري کړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په روژه کې له تندي څخه د مخنيوي لارې چارې!



په کال کې يوه مياشت روژه نيول د الله تعالى له لورې پر مسلمانانو فرض کړل سوې ده، نو هر مسلمان د الله تعالى د دغه امر د پر ځای کولو پوره هڅه کوي. دا چې په روژه کې خوراک او څښاک په ټوله ورځ کې منع دی، نو د تندی د مخنيوي لپاره زمونږ د روغتيايي برخې همکار ښاغلي ( باتور غيرت) د خپلو مينه والو په غوښتنه د دغې مسئلې په اړه ځانګړی راپور جوړ کړی دی، چې دا دی ستاسو مخ ته يې ږدو!

## پۀ روژه کې ولې انسان تږی کيږي؟

د انسان په بدن کې دوه عناصر موجود دي، چې يو سوديم نومېږي او بل پوتاشيم، دغه عناصر د حجرې دباندې او دننه موقعيت لري، کله چې د دغو دوو عناصرو غلظت توپير ومومي، نو انسان د تندې احساس کوي، يعني سوډيم له حجرې خارج سي او پوټاشيم داخل سي، نو د انسان مرکزي حکومت (اعصابو) ته د اوبو د کموالي خبر ورکول کيږي.

## د اوبو د نه څښلو له کبله روغتيايي زيانونه:

کله چې تنده زياته محسوس سي، انسان له يو شمېر روغتيايي ستونزو سره مخ کېږي، چې د انسان د وجود پوستکی، مخاطي غشاء او شونډې وچېږي، ګنګسيت پيدا کوي، تمرکز په سمه توګه نه سي کېدلای، سټريا او سر دردي احساسېږي، زړه نامنظم حرکات پيلوي او د انسان د بدن هغه غړي له کاره وځي، کوم چې ګرمي کنټرولوي، خوبجن حالت او تبه منځ ته راوړي، چې د دغو روغتيايي ستونزو له کبله انسان د مرګ له ګواښ سره مخ کېږي.

## نو روژه کې څه وکړو؟

په کابل کې چې ۱٦ ساعته روژه نيول کېږي، ښايي په نورو ځايونو کې له دې څخه هم زيات وخت روژه نيول کېږي، انسان پر روژې سربېره ګرځي راګرځي، خپل کارونه پر مخ وړي، لمر ته هم ګرځي، نو خامخا به د تندي، لوږي او سټريا احساس کوي.

د پېشلمي پر مهال په خپلو خواړو کې له تازه مېوو او تازه سبزيو څخه استفاده وکړئ، ځکه چې تازه مېوې او تازه سبزي د ډېرو اوبو او فايبر لرونکي دي، چې د انسان په بدن کې تر ډېره وخته پورې پاتې کېدلای سي او د انسان سره د تندې په نه محسوسولو کې ډېره مرسته کوي.

مجربينو په تازه سبزيو کې بادرنګ ته ځانګړی مقام ورکړی دی، او ويلي يې دي، چې بادرنګ د تازه سبزيو څخه دی، چې د انسان بدن يخ ساتي، او له تندې سره تر بل هر څه ښه مباره کوي.

بادرنګ په تازه سبزيو کې تر ټولو زياتې اوبه او فايبر لري، چې اعصابو ته ارامي ور په برخه کوي، د هضم په پروسه کې ځانګړې رول لوبوي او د ګردو په پاکوالي کې ښه ونډه لري.

پشلمي کې له مالګې، تريو پنېر، هغه خواړه چې تروشي يا رنګونه ورګډ شوي وي، استفاده مه کوئ، ځکه تنده زياتوي، او د دې پر ځای د ليمو له اوبو څخه ګټه واخلئ!

خواړه جوسونه، بوره لرونکي اوبه او يا خالصه بوره هم مه کاروئ، ځکه دوی له حجرو او ويني څخه مايعات خارجوي، چې له کبله يې د انسان بدن اوبو ته ضرورت مومي.




د خواړو اوبو تر څنګ له الکول لرونکو مشروباتو څخه استفاده مه کوئ، لکه پيپسي. ځکه دا ډول مشروبات کاربن لري، چې له کبله يې معده سوځېږي، او د انسان بدن ته د ژر مړېدا احساس کوي، او د انسان بدن له نورو مايعاتو له استفادې څخه ژغوري.

د خواړو جوسانو پر ځای مجربينو د مېوو خالص جوس ښه بللي دي، او ويلي يې دي، که د پشلمي پر مهال وڅښل شي، تنده به وهم نه وينئ. انسان بايد د لمر له شعاګانو څخه ځان وساتي، ځکه د لمر وړانګې د انسان څخه خوله وباسي، چې د دغې خولې په وتلو سره د بدن مايعات کمېږي، او انسان ته د تندې احساس کيږي. په روژه کې بايد د ځان لمبلو پر مهال صابون استعمال کړی شي، ځکه چې د يخوالي سبب ګرځي، او انسان ته د تندې احساس ژر نه کيږي.

باتور غيرت وايي، په روژه کې بايد د ورځې له خوا بايد ورزش ونه کړی شي، ځکه دا د انسان انرژي کموي، او د روژې پر مهال انسان انرژۍ ته ډېره اړتيا لري، چې په کموالي سره يې د تندې احساس ژر کيږي. د روژه ماتي او پشلمي په منځ کې بايد اته ګيلاسه اوبه وڅښل شي، تر څو دوه يا درې ليتره برابرې شي. اوبه بايد وقفه په وقفه وڅښل شي، په يو ځل ډېرې او زياتې يخې اوبه څښل، د هضم په پروسه کې ستونزې پيدا کيږي، د معدې واړه رګونه تنګوي، په معده کې ستونزې راپيدا کوي، نو بايد اوبه په کافي اندازه، ډېرې يخې نه او ورو، ورو دې وڅښل شي.




# د غاښ درد اسانه درملنه



۱ـ د مالګې اوبو په وسيله پرېمنځل: د مستو خوړلو يوه يا دوه کاچوغې په اندازه مالګه په يو ګيلاس ترمو اوبو کې واچوئ او بيا پرې خوله کنګال کړئ، ورسره مو د غاښونو په منځ کې نښتي ټوټې ليرې کيږي او درد آراميږي. همدرانګه د التهاب درملنه هم کوي.

۲ـ د واورې ټوټه يا يخې اوبه: يو ټوټه واوره (يخ) په يو دستمال کې واچوئ او په هغه ځای چې غاښ مو درد کوي؛ کيږدئ، دغه کار هر يو ساعت بعد تکرار کړئ ورسره مو غاښ ته د وينې جريان کميږي، التهاب کموي او درد مو ارام کيږي.

۳ـ هوګه: يو پلی هوګه پاکه کړئ، لړه يې زخمي کړئ، لړه مالګه هم پرې واچوئ او د درد کوونکي غاښ لاندې يې کيږدئ. د څو دقيقو لپاره يې د غاښ لاندې ونيسئ، درد به مو آرام شي. ليکنه: داکتر اجمل درمان

# که د امونو مينوال ياست نو حتمي يې ولولئ!



ام يوه په زړپورې مېوه ده، خو ډېری خلک يې يوازې د خوند لپاره خوري، په ټوله کې مېوې د دې لپاره زموږ په ټولنه کې نه خوړل کيږي چې ګواکې طبي ګټې لري، يوازې د خوند او سټايل لپاره يې خلک خوري.

په دې مطلب کې به د ام له ګټو خبر سی.

ام د ګرمسېرو او استوايي سيمو مېوه ده چې نن سبا ور څخه په ټوله نړۍ کې د يوې ارزښتناکې مېوې په توګه ګټه اخيستل کيږي. ام د بتاکاروتن، ويټامين اې، ويټامين سي او پوتاشيمو اصلي منبع ګڼل کيږي. نيم ام د بلې مېوې له يوه واحد سره برابر دی چې ۷۰ کالوري انرژي لري. د امو يو ګيلاس يخ جوس څښل په طبيعي ډول ستاسو بدن د انرژۍ له اړخه پر ځان بسيا کوي چې عمده علت يې هم په امو کې په ډېره پيمانه د فرکتوز شتون دی.

دا چې ام په خپل ترکيب کې په زياته اندازه فرکتوز لري نو پر دې اساس د هغه غوړينو او کلکو غذايي موادو په هضم کې هم ډېره مرسته کوي، کوم چې د فايبر د نه شتون له امله په معده او هاضمي سيستم کې د ډېرو خطرناکو ناروغيو د رامنځته کيدو لامل ګرځي.

له روژه ماتي وروسته د امو د جوسو څښل د خېټې درد، د معدې پړسوب او دغه راز په لويو کلمو کې د ګازو د توليد مخه نيسي.

په خالي معده د امو خوړل مو د معدې له ستونزو سره مخ کوي. د ام له خوړلو مخکې يې پوست لرې کړئ؛ ځګه ډېری کسان د ام له پوست سره حساسيت پيدا کولای شي.

# په روژه کې د خوړو غذايي ارزښت ته پام وکړئ



حميدالله حميدي

د روژې مبارکه مياشت د خدای پاک د مېلمستيا مياشت ده. دا چې دغه مياشت د کلونو په تېرېدو سره په بېلابېلو فصلونو کې راځي، نو څومره چې ورځې اوږدېږي او ګرمي زياتېږي، نو غذايي ارزښت هم پکې دوه برابره کيږي.

د دې لپاره چې د معدې له ناروغيو او ستونزو سره مخ نه شی، بايد په روژه ماتي او پشلمي کې داسې خواړه وخورئ چې غذايي ارزښت يې يو څه زيات وي، څو مو د ورځې په اوږدو کې د بدن انرژي دومره پوره کړي، چې تر بل روژه ماتي پورې ورسېږی.

په روژه کې د بدن د اوبو کمښت روژه نيوونکي له ستونزو سره مخ کوي، ځکه د سهار له اذانه د ماښام تر اذانه پورې بدن ته خواړه نه رسېږي او بل دا چې پشلمي ته پورته کيدل، هم انسان بې خوبه کوي. بې خوبي او د بدن د اوبو کمښت دواړه چې سره يو ځای شي، نو د سخت سردرد لامل کيږي.

د سنګاپور د عمومي روغتون د تغذيې د برخې متخصص ډاکټر وايي، که په روژه کې مناسب خواړه او څښاک مصرف کړی، کولی شی چې په اسانۍ سره روژه ونيسی او هېڅ ستونزه درته پېښه نه شي.

## ۱- پشلمي ته ارو مرو پورته شئ:

له روژې پرته سهارنۍ د ورځې په اوږدو کې تر ټول ډېر ارزښت لري، خو په روژه کې بيا د پشلمي ارزښت دوه برابره کيږي. ډېری کسان پشلمي ته په را پورته کيدو خوب ته ډېر ارزښت ورکوي، خو دا له ځان سره جفا ده. له يوې خوا له ټاکلي ثواب څخه ځان محروموي او له بلې خوا يې روغتيا ته زيان اوړي.

## ۲- په روژه ماتي ډېر خواړه مه خورئ:

لکه څنګه چې مو مخکې وويل، ارو مرو د پشلمي لپاره پورته شئ؛ ځکه که پشلمی ونه کړی، د ورځې په اوږدو کې ډېر وږي کيږی او هغه ده چې په روژه ماتي بايد ډېر خواړه وخوری. په يو ځل ډېر خواړه مو بدن ته زيان رسوي. ۱۱مخ



(c) ketabton.com: The Digital Library



# په کندهار کې د فوټسال سیالۍ پیل سوې



د کندهار په لوبستان ورزشي جمنازیم کې د روژې په مناسبت د فوټسال شپنۍ سیالۍ پیل سوې، چې په کښې ۳۲ لوبډلې به یو د بل په وړاندې ولوبېږي.

ددې ټورنمنټ هره شپه دوې - دوې لوبې ترسره کیږي، چې یادې لوبې به یې د روژې میاشتې تر وروستیو ورځو پورې دوام وکړي. د لوبستان ورزشي جمنازیم مسئولین وایي، چې د دې ټورنمنټ لومړۍ لوبه ماخستن ۱۰ بجې او دوهمه لوبه بیا ماخستن ۱۱ بجې پیل سول.

د دوی په خبره، چې د دې سیالیو څخه یې موخه لوبغاړو ته په روژه کې د فوټسال لوبو زمینه برابرول دي.

په دې سیالیو کې ګډونوال لوبغاړي هم خوښ دي، چې دا ډول سیالۍ ورته جوړېږي.

په کندهار کې د روژې میاشتې له پیله د فوټسال تر څنګ د فوټبال او کرکیټ شپنۍ سیالۍ په بېلابېلو سیمو کې پیل سوي، چې د شپې ورته په زرګونه مینوال ورځي.

# افغانستان او ایرلنډ دوه لوبې کوي



ټاکل سوې، چې افغانستان به له نړیوال جام وړاندې دوه پنځوس اوریزې لوبې د روانې مۍ میاشتې په ۱۹ او ۲۱ مه نیټه د ایرلنډ پر وړاندې ترسره کړي.

د افغانستان او ایرلنډ ترمنځ تراوسه ۲۵ پنځوس اوریزې لوبې ترسره شوې دي، چې دولس یې افغانستان او دولس لوبې یې ایرلنډ ګټلې، خو یوه لوبه یې بې پایلې پای ته رسیدلې ده.

افغانستان تازه له سکاټلنډ نه د دوو یو ورځنیو لوبو سیریز یو د صفر پر وړاندې ګټلی دی.

افغانستان یادې لوبې د ۲۰۱۹ کال د پنځوس اوریزه نړیوال جام سیالیو ته د چمتوالي لپاره ترسره کوي.

افغان کرکټ ټیم د نړیوال جام په وارمپ( تمریناتي ) لوبو کې د پاکستان سره د روانې مۍ میاشتې په ۲۴مه او د کوربه انګلینډ سره په ۲۷مه نیټه لوبه کوي.

# تاتنهام د لومړي ځل لپاره د اُروپا د اتلانو فوټبال لیګ پایلوبي ته لاره پیداکړه



د اروپا د اتلانو فوټبال لیګ ځو میاشتي مخکي د ۳۲ لوبډلو تر منځ پیل سو، چې تېره او روانه اوونۍ یې نیمه پایلوبي د تګ او راتګ په ډول ترسره سوې.

د فوټبال د دې ټورنمنټ نیمه پایلوبي ته ۴ لوبډلو تاتنهام، لیورپول، بارسلونا او آژاکس لاره پیداکړې وه، چې لیورپول بارسلونا ته او آژاکس بیا تاتنهام ته په ماتي ورکولو سره پایلوبي ته لاره ومونده.

لیورپول لومړۍ تیره اونۍ د بارسلونا سره د بارسلونا په کورني لوبغالي نیوکمپ کي ولوبېد، چې بارسلونا ۳ ګولونه پر ۰ لیورپول ته ماته ورکړه، خو لیورپول د راتګ په پړاو لوبه کي په خپل کورني لوبغالي آنفیلډ کي بارسلونا ته ۴ ګولونه پر ۰ سخته ماته ورکړه خپله پایلوبي ته ووت او بارسلونا یې پرېښنبوده، چې پایلوبي ته ووځي.



بل پلوه په دوهمه نیمه پایلوبه کي تیره اونۍ تاتنهام د آژاکس لوبډلي کوربتوب وکړ، چې اژاکس ـ تاتنهام ته ۱ ګول پر ۰ ماته ورکړه.

د راتګ په پړاو لوبه کي آژاکس د تاتنهام لوبډلي سره یو ځلي بیا ولوبېد، چي تاتنهام ۳ ګولونه پر ۲ آژاکس ته ماته ورکړه.

دا لوبه آژاکس خورا ښه راپیل کړه، چي تاتنهام ته یې په ۵مه او ۳۵مه دقیقه کي ګولونه ورکړه، خو تاتنهام خپل مُرال دلاسه ورنکړ او درې ګولوهني یې د یوه لوبغاړي لوکاس مورا په واسطه د لوبې په ۵۵، ۵۹ او ۹۰یمه دقیقه کي ترسره کړې. دا چي لوبه ۳ ګولونه پر ۳ ګولونو مساوي سوه، خو تاتنهام د آژاکس په کور کي تر آژاکس ډېر ګولونه ولګول، نو یې دا حق ترلاسه کړ، چي پایلوبي ته ووځي. په دې سره د تاتنهام کلب په ۱۳٦ کلنی تاریخ کي لومړی ځل دی، چي د دې لوی ټورنمنټ پایلوبي ته ځان رسوي.



د انګلستان دا لوبډله به د اُروپا د اتلانو فوټبال لیګ پایلوبه د راتلونکي جون میاشتي په لومړۍ نیټه د بلي انګلستانۍ لوبډلي لیورپول سره ترسره کړي.

دا پایلوبه په هسپانیا کي د اتلاتیک ماډریډ په کورني لوبغالي واندا میترو پولیتانو کي د شپې ۱۱:۳۰ بجې پېلیږي.

# افغانستان په دوه منډو سکاټلنډ مات کړ



د ګلبدین نایب په مشرۍ افغان اتلانو د سکاټلنډ پر وړاندې په دوهمه یو ورځنۍ نړیواله لوبه کي بریا خپله کړه او سکاټلنډ لوبډلې ته یې په D/L Method سره په دوه منډو ماته ورکړه. د افغانستان او سکاټلنډ دوهمه یو ورځنۍ نړیواله لوبه په ایډنبرا کي ترسره شوه. د لوبې پچه سکاټلنډ وګټله او لومړی یې د توپوهنې پرېکړه وکړه.


په ټاکلو ۵۰ اورونو کي سکاټلنډ د ۷ لوبغاړو په سوځېدو سره ۳۲۵ منډې وکړې او افغانستان ته یې د ۳۲٦ منډو هدف وټاکه. د سکاټلنډ له خوا کالم مکلوېډ ۱۰۰ او کیلي کوټزر ۷۹ منډې وکړې. ګلبدین نایب ښه توپ اچوونه ترسره کړه او ۳ لوبغاړي یې وسوځول، همدا راز حمید حسن هم په توپ اچوونه کي وځلېده او دوه ویکټې یې ترلاسه کړې او افتاب عالم هم دوه لوبغاړي له میدان وویستل.

د یاد هدف پوره کولو لپاره افغان اتلانو توپوهنه پیل کړه، د افغانستان لومړۍ ویکټه په ۲۸ منډو وسوځېده خو د دویمې ویکټې لپاره محمد شهزاد او رحمت شاه ښه ملګرتیا وکړه او د افغانستان منډې یې ۱۲۱ ته ورسولې. د محمد شهزاد له سوځېدو وروسته حشمت الله شهیدي توپوهنې ته راغی او له رحمت شاه سره یې ښه ملګرتیا وکړه چې د افغانستان منډې یې ۲۳۰ ته ورسولې. رحمت شاه په زړه پورې توپ اچوونه ترسره کړه او په ۱۱۳ منډو وسوځېد. همدا راز حشمت الله شهیدي په ۵۹ او اصغر افغان په ۲۲ منډو ناسوځېدلي پاتې شول. محمد شهزاد بیا ۵۵ او حضرت الله ځاځي ۱۴ منډې کړې وې.


افغانستان په ٤٤.۵ اورونو کي د ۳ لوبغاړو په سوځېدو سره ۲٦۹ منډې کړې وې چې لوبه د باران له امله ودرېده خو وروسته د D/L Method له لارې افغانستان په دوه منډو سکاټلنډ مات او په دویمه یو ورځنۍ نړیواله لوبه کي یې بریا خپله کړه.

د ښې توپوهنې ترسره کولو له امله رحمت شاه د لوبې غوره لوبغاړی ونومول شو.

یاده دې وي چې د افغانستان او سکاټلنډ لومړۍ یو ورځنۍ نړیواله لوبه د اورښت له امله نه وه ترسره شوې او د دوه لوبو په لړۍ کي افغانستان د یوې لوبې په بریا سره یاده لړۍ په خپل نوم کړه.




# حمید حسن: په نړیوال جام کې به ښه ولوبېږم



د افغانستان د کرکیټ ملي لوبډلي تیز توپ اچونکي حمید حسن په یوې تازه مرکه کي ویلي، چي د ۲۰۱۹م کال نړیوال جام کي به د افغانستان لپاره ښې لوبې ترسره کړي او ښه به ولوبېږي. حمید حسن وویل، چي د تیرو ځلور نیمو میاشتو را پدې خوا د افغان لوبډلي سره یې په بیلابیلو برخو کي تمرنیونه ترسره کړيدي او راتلونکی نړیوال جام ته یې پوره چمتوالی نیولی. هغه دا هم وویل، چي دا نړیوال جام به یې وروستی وی، خو په شل آوریزه سیالیو کي به ځو کلونه نور هم په افغان ټیم او نورو تجارتي لیګونو کي ولوبېږي.

د افغانستان د ملي لوبډلي سره یو ځلي بیا یو ځای سوي دا تیز توپ اچونکي لوبغاړي د غوراوي کمېټې څخه مننه وکړه، چي پر ده یې باور وکړ او یو ځلي بیا یې په ملي لوبډله کي شامل کړ.

افغان کرکیټ بورډ ۲۰ ورځې مخکي د کرکیټ نړیوال پنځوس آوریزه جام ته خپله ۱۵ کسیزه لوبډله اعلان کړه، چي په دې ډول ده:

ګلبدین نائب (لوبډلمشر)، محمد شهزاد، نور علي ځدران، حضرت الله ځاځی، رحمت شاه، اصغر افغان، حشمت الله شهیدي، نجیب الله ځدران، سمیع الله شینواری، محمد نبي، راشد خان، مجیب الرحمن ځدران، دولت ځدران، افتاب عالم او حمید حسن.

ددې سربیره درې لوبغاړي هر یو سید شیرزاد، کریم جنت او اکرام علي خېل په احتیاطي لوبغاړو کي شامل دي.

د ۲۰۱۹م کال پنځوس آوریزه نړیوال جام د روانې مې میاشتې په ۳۰مه نېټه په انګلستان او یلز هیوادونو کي پېلیږي. افغانستان به خپله لومړۍ لوبه د جون میاشتي په لومړۍ نیټه د آسټرالیا په وړاندې ترسره کړي.

په دې ټورنمنټ کي د افغانستان په ګډون د کرکیټ لس مخکښ هیوادونه ګډون لري.

# مانچسټر سیټي د انګلستان د فوټبال غوره لیګ وګاټه



د مانچسټر سیټي لوبډلې نن یکشنبه برایټن لوبډلې ته په ځلور/یو ماتې ورکولو سره د انګلستان د فوټبال غوره لیګ وګاټه. دا د انګلستان د فوټبال غوره لیګ سیالیو کي لومړی ځل دی چې یوه لوبډله دوه پرله پسې کاله دا اتلولۍ ګټې.

د سږ لوبیز کال سیالي تر ډېره د مانچسټر سیټي او لېورپول لوبډلو ترمنځ وه، چې د لوبیز کال تر وروستۍ ورځې یې دوام وکړ.

په پای کي مانچسټر سیټي له ۳۸ لوبو وروسته په ۹۸ پاینټونو سره اتله شوه، او لېورپول په ۹۷ پاینټونو سره دویم ځای واخیست. د چېلسي لوبډلې ۷۲ پاینټونو سره درېیم او ټاټنهم هاټسپر لوبډلې ۷۱ پاینټونو سره ځلور ځای خپل کړ. پنځم ځای د ارسنال لوبډلې په برخه شو.



خو د انګلستان یوې بلې پیاوړې لوبډلې مانچسټر یونائټډ لپاره سږ کال یو ځل بیا له ناهیلیو ډک و. یاده لوبډله سږ کال له یوازې ٦٦ پاینټونو سره په شپږم ځای کي پاتې شوه، او د یکشنبې پر ورځ یې هم په کور کي کارډېف لوبډلې ته لوبه وبایلله .

دا د مانچسټر سیټي لوبډلې د روزونکي پېپ ګارډیولا درېیم کال دی چې په انګلستان کي د فوټبال روزنه کوي، او په تېرو دوه کلونو کي یې اتلولي هم ګټلې. نوموړی په تېره یوه لسیزه کي د اروپا په فوټبال کي تر ټولو بریالی روزونکی بلل کیږي.

کارډېف، فولهم او هډرزفیلډ هغه درې لوبډلې وې چې سږ کال د جدول په پای کي راغلې او راتلونکی کال به د غوره لیګ په سیالیو کي ګډون نه کوي.

د اروپا د چمپینز لیګ یا د اتلانو لیګ پایلوبه د انګلستان د لېورپول او ټاټنهم هاټسپرز ترمنځ ترسره کیږي. همدا راز د اروپا لیګ پایلوبې ته هم د انګلستان چېلسي او ارسنال لوبډلې رسېدلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مېـږی او کفتره



يو وخت د اوړي (دوبي) تکنده غرمه وه، يو تږی مېږی کښته پورته، سټړی ستومانه، وچ حلق لالهانده په اوبو پسي ګرځېدی، تر ښه ډېر وخت وروسته يې د اوبو يوه چينه پيدا کړه، مېږي د چينې څنډې ته ور ځېرمه پر يوه شين واښه د خټلو هڅه وکړه چې اسانه د چينې سپينې او پاکې اوبه وڅښي، خو ناڅاپه يې پښه وښويېده، د چينې ډنډ ته ور ولوېد.


نږدې و چې د چينې په ډنډ کې ډوب سي، خو خوشبختانه د چينې پر غاړه يوه لويه جګه ونه ولاړه وه، په دې ونه کې ښکلې او مهربانه کفتره ناسته وه، کفترې چې د مېږي بېچاره نارې او غوښې ولېدې، ډېر ژر يې له ونې يوه پاڼه راوشکوله او د چينې په منځ کې يې د مېږي تر څنګ ايله کړه، مېږی د پاڼې په ليدو خوښ سو، په منډه ور وخوت. د پاڼې په مرسته د چينې سپينو اوبو پر سر و چې ځمکې ته راووت. مېږي ټوپ کړ له پاڼې راکښته سو.

لږ ګړی وررسته، يو ښکاري له سيمې تېرېده، د کفترې په ليدو يې غوښتل چې کفتره په خپله غولکه ښکار کړي، خو مېږي چې د ښکاري بېرحمه او ظالمانه کړنه وليده، ډېر ژر يې ښکاري پر پښه وچيچه، ښکاري چيغه کړه، خوږ سو، کفترې چې د ښکارې غلبله واورېده سمدستي والوتله.

# د انسان د بدن جوړښت



د خپل بدن د جوړښت په اړه څومره مالومات لرئ؟ نن د انسان د بدن د جوړښت په اړه مالومات درکوو، خو ځيني جالب او هېښنده ټکي مو هم پکې رااخيستي دي، هيله ده ويې لولئ، خو که تاسي ته هم داسي مالومات ياد وي، زموږ سره يې هرو مرو شريک کړئ.



بدن د يوه ژوندي موجود د غړو ټولګي ته ويل کېږي. يا په بل عبارت د انسانانو، حيواناتو او يا نباتاتو فزيکي جوړښت ته بدن يا جسم ويل کېږي.

کله چي انسان بلوغ ته ورسيږي، نو جسم تقريباً د ١٠٠ ټريليونه ژونکو يا باکټرياوو لرونکی وي. دغه ژونکي په بيولوژيکي ډول تنظمېږي او ټول جسم جوړوي.

په منځني ډول د يوه نارمل نارينه جګوالی په پرمختليو هيوادونو کي له يو اعشاريه اووه تر يو اعشاريه اته متره او د يوې نارملې مېرمنې جګوالی تقريباً له يو اعشاريه شپږ تر يو اعشاريه اووه متره پوري لوړ وي.

خو د انسان د وجود په اړه ځيني جالب او حيرانونکي مالومات هم دا دي:

د انسان د پرنجي سرعت په يوه ساعت کي ١٥٠ کيلومتره دی. نارمل ياني روغ کس د شپې له خوا په يو ځل ٣٠٠ ستوري ليدلای سي.


د انسان زړه په يو کال کي اووه دېرش ميليونه اته سوه او درې څلوېښت زره او دوه سوه (٣٧٨٤٣٢٠٠) ځله درزا کوي، غورځي. د انسان ويښتان د مياشتي يو انچ اوږدېږي. په شپږ کلنۍ کي د انسان دايمي غاښونه را پورته کېږي.


د انسان په بدن کي د وينې سرعت په يوه ساعت کي ٧٥ مايله دی.

د انسان په بدن کي شپږ پونډه (٢،٧٢ کيلو) وينه ده.





السلام عليکم ګلاليو ماشومانو!
خدای (ج) دي وکړي چي روغ، جوړ او خوشحاله اوونۍ به مو تېره کړې وي.
ګلاليانو، دغه سپی له خپل کور څخه ورک دی، تاسي ورسره مرسته وکړئ او تر خپل کوره پوري ئې ورسوئ.






السلام عليکم ښايستو ماشومانو!
هيله ده روغ او خوشحاله به ياست.
دا مرغه د خپل قلم پواسطه د شمېرو په تعقيب سره رسم کړئ او وروسته ئې رنګ کړئ.







## د ورځني تازه مسايلو څخه ځان خبر کړئ ، د ټاټوبي اوونيزي د فيسبوک پاڼه لايک کړئ (www.facebook.com/Tatobayn)



### عبدالغفور لېوال

طلسمونه مات کړئ، ناقانونه زورمن او ټکک سري قُلدران د خلکو په اذهانو کي وځپئ.

زه لا هم باور لرم، چي تر پوليسو، محاکمو او زندانونو ډېر د خلکو عامه افکار ځواکمن دي.

هرچا، چي خپل ځای ځايګی د خلکو په ذهنونو او افکارو کې بايلود، داسې لغړو لنډه غر پاتېږي، چي بيا يې د شاهي زماني يو لرګی په لاس سپاهي هم د عدالت منګولو ته ورروانولای شي.

سپينه مامدينه يې وايم، چي عدالت ته د راکشولوپرلار د زورمنو قُلدرانو سپين سترګي، ټوپک ويپسي خندونه نه دي، بلکې تر ټولو لوی خنډ دا دی، چي د ولس يوه برخه د قامولی، ژبې، عقيدې، ډار يا شخصي ګټو په خاطر ورپسې دي، بلکې پر خپلو اوږو يې سپاره ګرځوي.

که د دوی د زېښناک ولسي ادرس ونړېد، عدالت ته به پخپله داسې ورروان وي، لکه کريزوهلي لغړ چرګان.



### عبدالغفور لېوال

لويه جرګه؛ د حکومت شاټ

راځئ له منتقدينو سره يې څو شېبې ومنو چي د لويې جرګې ټول ٣٢٠٠ ګډونوال حکومتي کسان ول مګر له دې خو دوی هم انکار نه شي کولای چي دا خلک له ٣۴ ولاياتو څخه د ولس له منځه راغلي ول.

د جرګې ګډونوال اکثره يې له سياسي ډلوټپلو څخه بېزار خلک ول چي اول وار يې له کومې سياسي واسطې او ټېکدار پرته د خپلو نظرياتو د اظهار چانس مونده او دا دوی ته يو ډول شخصيتي وزن بخښل وو؛ لا جالبه دا چي د دوی له پرېکړې څخه يوې مادې يې هم له ملي ګټو سره ټکر نه درلود، هره يوه يې زموږ د عيني ضرورتو زېږنده وه او هيڅ يوه تحريموونکي يې هم د رد توان و نه درلود، يوازې مې په يوه ورځپاڼه کې دا له منطقه خلاص نقد ورباندې ولوست چې د ديني نصوصو د واحد تعبير ماده يې دين ضد ګڼلې وه او اصلاً يې خپل ځان شرمولی وو.

دا چې يوازې طالبانو دا جرآت ودرلود چې دا جرګه يې توطيه وبلله او د خلکو د اوربند وړانديز يې نه يوازې رد بلکې په روژه کې يې د جنګي جناياتو پر شدت ټينګار وکړ نو دا هرڅه خلکو ته د فکر کولو فرصت ور کوي چې دا څوک دي چې زموږ د سولې غوښتنې ردوي او موږ تحريموي؟ په دې توګه دوی خپل قضاوت کوي او د خلکو په محاکمه کې محکوم جهت به خامخا سزا ويني او دا سزا به د ولس له متنه د دوی تجريد او ابدي فنا وي.

په دې ډول نو دا زموږ ساده سياسيون او طالب افراطيون دي چې د خپل ځان پر ضد موقفونه نيسي، ياني په لوی لاس خلک له ځانه بېزار او د حکومت خوا ته يې ور ټېل وهي.

په لويه جرګه کې چې د خلکو تر حد زيات عزت وشو، ونازول شول، ولسمشر يې فيصلو ته په درنه سترګه وکتل او ښه خوشحال يې رخصت کړل نو دا خو بېرته په کليو و بانډو کې د ولس منځته ورځي او په کابل کې د خپلو اميدواروونکو شېبو خوږې خاطرې و کيسې بيانوي او دا کيسې بيا د کليوال ژوندانه په ټول ذهن کې نفوذ کوي؛ تاسو فکر وکړئ چې د ٣٢٠٠ انسانانو له خوا، په ٣۴ ولاياتو کې، د سولې و اوربند په پلوي او د جنګ و جنايت په خلاف د خپلو تصاميمو، د حکومت د تايد او د مخالفينو د ترديد کيسه ٣٢٠٠ واره تکرار شوه، بيا به نو د ولس جمعي فيصله د چا په ګټه او چا په زيان وي؟

پرګنې خپل جالب رياليستيک قضاوت لري چې ساده خلک به په ساده سترګه ور ته ګوري. ياره حکومت به هرڅومره ډېرې نيمګړتياوې لري خو دا يې عجب شاټ و نه واهه؟



### ارشاد رغاند

ولسمشر ته مې د ننګرهار په وروستي سفر کې يې وويل: دا څو کاله مو د زورواکو او مافيا په نوم د هغو ډلو دښمني وکړه، چې ستا او د حکومت له نيږدې ملاتړه دې برخمن وو.

نور نه مافيا پېژنو، نه زورواکي، ننګرهار دا يو هم نه لري، که وايئ لري يې، ويې نيسئ، موږ ترې وژغورئ.

اوس هم وايم: نور موږ ته حکومت مسول دی، پر دی، مخاطب دی، دا را نيسو، چې هرڅه را سم کړي.

نور مو انرژي او قوت بايد د څو سنګرونو په جنګ کې تقسيم او ونه پاشل شي!

او ننګرهار وژغوږئ شعار بيا بدرګه کړئ!



### صديق الله افغان

کندهار کې د اوبو شبکې پرانيستل کېږي، خو چا ته اوبه نه ورکوي، په لويه ويالې او ميرويس مېنه کې څه، چې ښار په منځ کې د نل اوبه په ورځو - ورځو نه وي، ډېره کله، چې برق غيب سي، دوی هم ورک سي.



### اجمل ستانکزی

ځينې وايي ستره محکمه دا صلاحيت لري او ځينې وايي دا صلاحيت نلري. زه به دومره ووايم چې يو دولت له دريو برخو جوړيږي.

مقننه قوه، اجرائيه قوه او عدليه قوه، مقننه قوه (پارلمان، جرګې، ګانګرس...) قوانين جوړوي.

اجرائيه قوه (ولسمشر او تر لاس لاندې يې ټول پټ او ښکاره ځواکونه، ټول وزارتونه او رياستونه... لنډه دا چې ټول حکومت) د مقننې قوې پواسطه جوړ شوی قانون په هيواد کې عملي کوي.

عدليه قوه (ستره محکمه او نورې محکمې) کله چې قوانينو کې پوښتنې وي نو د دغو قوانينو سپيناوی کوي او د قوانينو په رڼا کې د موضوعاتو په اړه نهايي فيصلې کوي. چې اجرائيه قوه بيا دا نهايي فيصلې پلي کوي.



### غازي عابد

فکر کوم د ننګرهار والي ښکاره فايرونه شروع کړل، مخکې يې دا فايرونه ما په ورو جلسو او غونډو کې اوريدلي او ليدلي.

په هرحال؛ که چيرته د تخريبوونکو ډلې افشا شي، دا به د والي صيب لوی جرائت وي، دې وطن کې داسې کار کول، غټ ريسک او ځانته دښمني اخيستل دي. اصل کې د انسان ژوند هله مزه کوي چې د ټولنې د هوساينې لپاره ځان ويلي کوي.

هيله ده والي صيب د روانو ستونزو او پټو خامارانو په اړه تل سپين او ولسي وغږيږي !



(c) ketabton.com: The Digital Library



# د آمریکا B52 آلوتکه د قطر العدید هوایي آډه کي کېناسته




د آمریکا مرکزي قوماندانۍ خبر ورکړی، چي ددغه هیواد B۵۲ ډوله بمباردونکي الوتکه د قطر په العدید هوایي آډه کي ځای پرځای سوې ده. د آمریکا دا اقدام د ایران د ګواښونو لپاره د واشنګټن په توضیحاتو ولاړ دی. د آمریکا ملي امنیت سلاکار جان بولټن ویلي، چي د آمریکا B۵۲ ډوله آلوتکه منځني ختیځ کي ددغه هیواد د بمبارۍ ځانګي ګمارل دي، چي د ایران رژیم ته واضح پیغام ورکوي. نوموړي زیاته کړې، چي یاده بمباري آلوتکه د آمریکا د ګټو په وړاندي د هر ډول نظامي یرغل په وخت کي متقابل لوري ته ځواب ورکولای سي.

# ترمپ ایران ته خپل ټیلفوني شمېره ورکړه



د CNN خبري شبکي د خبر له مخي، سپیني ماڼۍ د سویسي چارواکو سره په یوه اړیکه کي هغوی ته د ټرمپ ټیلفوني شمېره ورکړې، څو هغه ایران ته په واک کي ورکړي، چي د اړتیا پرمهال د ټرمپ سره اړیکه پرېږ ونیسي. د راپورونو په اساس، سویسي چارواکو ویلي، چي د ټرمپ دغه ټیلفوني شمېره به تر هغې ایران ته ورنه کړي، څو چي تهران یې د ترلاسه کولو وړاندیز نه وي کړی.

د آمریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د رواني می پر ۹مه ویلي وو، چي مینه لرم، چي ایرانیان زما سره ټیلفوني اړیکه ونیسي. نوموړي زیاته کړې وه، چي ایران ته زیان نه غواړي، خو موخه یې یوازي آټومي وسلو ته د ایران د لاسرسي مخنیوی دی.




# مدیتراني بحیره کي یوه کښتۍ چپه سوې ده



د تونس سمندري پولیس وایي، د مدیتراني بحیره کي د کډوالو یوه کښتۍ چپه شوې ده چي په ۵۰ کسان مړه شوي دي او ۱۶ نور ژوبل دي.

د رسنیو د راپورونو په حواله، په یاده کښتۍ کي ټول مهاجر سپاره وو چي تر اوسه یې هویت نه دی په ډاګه شوی.

د افغانستان په ګډون د منځني ختیځ او نورو اسیايي او افریقایي هېوادونو مهاجرین هڅه کوي د کوچنیو او بیکاره بېړیو په واسطه د مدیتراني بحیرې له لارې ځانونه لویدیځې اروپا ته ورسوي. ډېر ځله داسې شوي چي دا ډول بېړۍ ساحل ته ونه رسېږي او زیات شمیر مهاجر هدف ته له رسېدو مخکي خپل ژوند بایلي.

# ترکیې سمندري تطبیقات پیل کړي دي



ترکي رسنۍ وايي، دغه هېواد په خپل تاریخ کي تر ټولو لوی سمندري تطبیقات پیل کړي دي.

د رسنیو د راپورونو په حواله، دا تطبیقات د اناتولیا د درې خواو څخه، ختیځې مدیراتې، ایژې او تورې بحیرې کي پیل شوي دي.

ویل شوي دي، یادو تطبیقاتو کي ۱۳۱ جنګي بېړۍ، ۵۷ جنګي الوتکي او ۳۳ هم جنګي چورلکو ګډون کړی دی. د ترکیې د ستر درستیزوالۍ د کلنیو تطبیقاتو د پروګرام په چوکاټ کي د سمندري ځواکونو د قوماندانۍ لخوا پلان شوي او د سمندري حرب د مرکزي قوماندانۍ لخوا سوق او اداره کیدونکي دا تطبیقات په هممهاله توګه په توره بحیره، ایژې سمندر او ختیځه مدیترانه کي ترسره کیږي.

ځایي رسنۍ وایي، دا تطبیقات به د مې په ۲۵ مه نیټه پای ته ورسیږي.

# امریکا خپلو پوځیانو ته د چمتووالي امر کړی

وروسته له هغه چې د ایران او امریکا اړیکې خرابې شوې، امریکا عراق کې خپلو پوځیانو ته د تیارسۍ امر کړی دی. د امریکا د سمندري ځواک یو قوماندان وایي، عراق او سوریه کې امریکایي پوځیانو ته لاربسوونه شوې چې بشپړ چمتووالي ونیسئ او تیارسئ اوسئ. بل پلو برېتانوي جنرال کرس جیکا ویلي دي، په عراق او سوریه کې میشتو عسکرو ته د هغو ځواکونو له خوا چې ایران یې ملاتړ کوي، ډېر خطر متوجې نه دی.

په دې وروستیو کې د امریکا او ایران اړیکې سختې ترینګلي شوي دي او د یو احتمالي جګړې اټکل روان دی.

# فرانسې د سعودي د سلاحو ډکه کښتۍ ونه دروله



د سعوي عربستان یوه باربري کښتۍ، چي موخه یې د فرانسې شمال ته د سلاحو انتقال و، د بشري حقونو د سازمانونو د فشار په دلیل لوهاور بندر کي ونه درول سوه. دغه کښتۍ د رواني می پر ۸مه د لوهاور بندر په ۳۰ کیلومترۍ کي وه، خو اوسمهال د آسپانیا شمال لوري ته د سانتاندر بندر په طرف په حرکت کي ده.

د رواني می پر ۱۰مه دوو بشري خصوصي موسسو د فرانسې له بحري ځواکونو وغوښتل، چي ژر تر ژره دي د سعودي عربستان د «بحري ینبع» په نوم د سلاحو ډکه کښتۍ ودروي.

# د پاکستان حکومت پر ۱۱ ټولنو بندیز لګولی



د پاکستان حکومت پر ۱۱ هغو ټولنو بندیز لګولی، چي د ترهګرو ډلو د ملاتړ تورورباندي و . دغو ټولنو د مدني او خیریه فعالیتونو په نوم په لاهور ښار کي دفترونه لرل. د دوی نومونه په ډاګه شوي نه دي، خو ویل شوي چي ژر به اعلان شي. پاکستان په وروستیو کي د ترهګرو ډلو د پناه ګاه او ملاتړي په نوم خورا بدنام شو. اوس په داسې هڅو د خپل نوم د ښه کیدو هڅې کوي، خو د شنونکو په وینا دا هڅې به بریالۍ نه شي.

# ایران: یوه خبریاله په ۱۲ کاله بند محکومه سوه



د ایران یوې محکمې یوې خبریالې ته د ۱۲ کلونو او ۹ میاشتو د بند سزا اورولې ده. دا ښځه دغه راز پر دې محکومه شوې، چي تر دوو کلونو په ګوندونو، ټولنیزو رسنیو او مطبوعاتو کي کار نه شي کولای.

پر هغې تور دی، چي د ایران د نظام او ملي امنیت خلاف یې کار کړی. پر یادې خبریالې دغه راز حکم شوی،چي له ایران څخه بهر نه شي تلی. د خبریالې نظر په دې اړ نه دی ترلاسه شوی.

ایران خبریالانو ته له ترټولو بدو هېوادونو څخه دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library





# بې ساعته روژه

سردار ولي پښتونزوی

پخوا چې افغانستان کې ساعت نه وو، د روژه مات او پېشلمي پر وخت به په لويو ښارونو کې پر غونډيو پرتو توپونو ډز کاوه او خلګ به پوهېدل چې روژه مات/ پېشلمی دئ.

د کابل تاريخي توپ په لومړي ځل د امير حبيب الله خان په وخت کې د ګذرګاه غونډۍ ته وخېژول سو او پر ۱۲ بجو به ئې ډز کاوه چې خلګ په غرمه خبر سي او همدارنګه ئې به د پېشلمي او روژه مات پر وخت هم ډز کاوه چې خلګو به ئې اواز خورا په احتياط اورېده.

وروسته عبدالحميد_کندهاري وتوانيد چې اتومات ماشه ورجوړه کړي چې ټيک پر دولس بجې به له ذره بينه څخه رڼا باروتو ته ولوېده او باروتو به له اور اخيستلو وروسته ډز وکړ.

ددې توپ توپچي [صابر] نومېده چې واى يو وخت د افغانانو افسانوي کس وو.

يوه پېړۍ د مخه چې ساعت افغانستان ته راغلی، [د ساعت منار] په نامه لوی منار ودرېد او له ساعته ئې ښاريانو مفته ګټه اخيسته، پخوا چې ډزي او باورت نه وه، خلګو به دې ډز ته په دومره سپېڅلې سترګه کتل چې د غرمې ډز نه واى سوی، هيچا ماشومانو ته ډوډۍ نه ورکوله.

ځيني مورخين بيا ددې ډزو دا مانا هم ورکوي چې د وخت حکومتونو به پر خلګو د روب اچولو په نيت دا کار کاوه چې وښيي حکومت بيدار دئ.

د مجاهدينو په دوره کې ډېر کوښښ وسو چې دا توپ کښته کړي، خو د توب بخت په دې بيدار وو چې په پيلانو خېژول سوی وو او راکښته کېدل ئې د انسان د وس خبره نه وه.

لس کاله د مخه د کلتور وزارت په مټ توپ بيرته ورغول سو او د کابل ميلاد په ورځ اوس هم ډز کوي، خو دا چې ډزي ډېري دي، ددې توپ ډز پکښې ورک دئ.

ايا ستاسي د وخت توپ يادېږي؟

# د هلمند د يوه سرتېري د ژوند ترخه کيسه

------- نثار احمد احمدي

په هلمند کې يو ګلالی ځوان و. د مور يو زوی و. ماماګانو ته ايتيم پاته سوی و. ډېري ناخوالي يې وګاللې. ژوند يې يوه ترخه څپه وه چې دی يې غېږه کې د سېراب له ښنډو واهه. وخت تېرېد. وروسته يې ماماګانو کوزده ورته وکړه. په ډېري سترړيا يې د واده ولور پوره کړ. يوه مياشت مخکې يې واده وکړ. دا واده نو د ده د ژوند تر ټولو ستره او بې بېلګې خوشالي وه. د واده پنځه شپې يې کور کې تېري کړې. وروسته بيرته خپل خدمت ته ستون سو. دی د هلمند په يوه جنګي ساحه کې پوليس و. دا چې دی له يوې خوا ايتيم و او له بلې خوا د مور يو زوی و، نو يې د خسرګنۍ مشرانو وړانديز ورته کړی و چې وضيعت جنګي



دی، تاته به د شخصي کار زمينه برابره کړو دا دنده پرېږده. ده ورته ويلي ول چې له دې دندې پرته بل هيڅ کار نکوم او که سر مې تر وطن قربانيږي، زه دې قربانۍ ته چمتو يم. مېرمن بېچارګۍ يې هم ډېره ورسره ځورېده. ده يواځې

کور کې ۵ ورځې تېري کړې وې. دا پرون دی، که وړمه ورځ کور ته روان و. مېرمني ته يې حال ورکړی و چې ما رخصت راخيستی دی کور ته درځم. مېرمن يې ډېره خوشاله سوې وه. دی هم په ډېري لېوالتيا له يوې مياشتي ځنډ وروسته کورته روان و. دی چې کور ته نيژدې سوی و، دا وخت يې دښمن کمين ورته نيولی و، دی يې همالته ځای پر ځای په شهادت رسولی. مېرمن يې د ده راتلو ته انتظار وه. وروسته يې د ده پر ځای د ده جنازه کور ته ور وړه.

ځوانه مېرمن يې د دې بد خبر په اورېدو لېونۍ سوه. دا داسي غم و چې نه يې هېرولی سو نه يې زغملی سو. زموږ د وطن د ځوانانو ژوند دی، دا مو د خويندو د ژوند تريخ داستان دی.

------- اکبر شير

# کـــيسه!!!

وايي چې يو چا د رختو کارخانه جوړه کړه، ښه توليد روان و دی کې ناڅاپه ماشين برق خوشی کړ او ودريد، تخنيکرانو پاور کيبلونه چک کړل هرڅه سم ول خو ماشين نه چالانيده.

د کار خانی مالک د ښار برقيان ټول راوغوښت خو د چا وسه و نشو چې ماشين چالان کړي.

بلاخره مالک د برق مخترع را وغوښت د هغه هم سر خلاص نشو.

د کارخانی شاته يو وړوکی مستري خانه وه چې دا ټول حالات يې څارل د کارخانی مالک ته يې وويل:

اجازه ده چې زه هم خپله هڅه وکړم؟

مالک وخندل ويل د برق مخترع څه ونکړ ته به څه وکړی.

خوارکی مستري د ماشين نه يو دری طوافه و کړ مشکل ورته معلوم نشو له ډيره قهره يې پخپل څټک ماشين ته ګوزار ورکړچې دی کې ماشين چالان شو او په توليد يې پيل وکړ.

مالک ورته د خوشالی نه په وارخطايی وويل: څو دی شوی يعنی حق الزحمه؟

مستري ورته وويل: يو لک او يو روپی.

مالک وويل يو څټک وهل او دومره لوړه حق الزحمه؟

مستري وويل:

د څټک وهلو يو روپی کيږي يولک ددی لپاره غواړم چې د څټک ځای می معلوم کړ.

# په روژه کي د خوړو غذايي ...

هڅه وکړئ چې په روژه ماتي کي د خوړو انډول وساتی. لږ، خو با ارزښته خواړه وخورئ، نه د يوې مېلمستيا په څېر. ډېر او غوړ خواړه مو د هاضمې سيسټم خرابوي.

د ماښام له لمانځه وروسته په ارامۍ سره ډوډۍ وخورئ او له هرې ګولي يې خوند واخلئ.

۳- څومره چي کولی شی اوبه وڅښئ:

د اوبو له ګټو خو ښه خبر ياست. څومره چي کولی شی له روژه ماتي تر پشلمي اوبه وڅښئ، خو په دمه دمه. د ډېرو اوبو څښل د ورځې په اوږدو کي د بدن د اوبو د کمښت خطر کموي. لږ تر لږه له روژه ماتي تر پشلمي پورې بايد اته ګيلاسه مايعات وڅښئ. مايعات کيدای شي اوبه وي، د بېلابېلو مېوو جوس وي، شيدې وي، شربت او يا هم سوپ وي.

خو هغه څښاک چي په ترکيب کي يې کافئين وي، لکه: قهوه، چای او نوشابې له څښلو يې ډډه وکړئ؛ ځکه دغه مايعات د زيات ادرار لامل کيږي او بيا هغه ده چي د بدن د اړتيا وړ اوبه نه شي پوره کولی. سالم او متعادل غذايي رژيم، د ښې روژه نيونې لپاره کيلي ده.

په روژه کي د نورو مياشتو پر خلاف کورنۍ ټول يو ځای ډوډۍ خوري. هڅه کوي چي په روژه ماتي او پشلمي دواړو کي د خپلي خوښې خوندور خواړه تيار کړي. نو ښه ده چي داسې غذايي رژيم برابر کړی، چي ارزښت يې يو څه زيات وي او له پشلمي تر روژه ماتي پورې مو ورسوي. نوربيا...

# نارينه ولې د ښځو پر وړاندې بې ميله کېږي؟

------- ليکنه: خالص اديب

اول: د خولې بد بوی له ځينو علمونو سره، د بعضې انسانانو خولې بد بوی کوي چې خاوند د ميرمنې او ميرمن له خاوند سره د شونډو زبېښلو يا ښکلولو په وخت کې د ځينې نزاکتونو له مخې يو بل ته څه نه وايي؛ مګر لازمه داده چې کله خاوند او ميرمن سره يو ځای کېږي بايد مخکې له مخکې نه غاښونه برس او د خولې خوشبويي استمال کړي، تر څو هغه خوړې او لذتبخشه شيبې پرې و نه غمېږي؛ خو دا هغه وخت کېدای چې په دواړو کې د درک ځواک موجود وي.

دويم: بې حده سينګار طبيعي ښکلا خپله د انسان په زړه منګلې خښوي؛ نو اړتيا څه ده چې د څو شېبو لپاره د وجود په ځينو غړو باندې بېلابېلې دواګانې، کريمونه او ملهمونه استمال کړو، ښکلا د هر انسان له ليده جدا ده؛ مګر د مېرمنو له لينزه نه پوهېږم؛ خو د يوه نارينه په صفت دومره وېلای شم چې بې حده سينګار د نارينه د بې ميلۍ سبب کېږي.

درېيم: د بدن بد بوی اوس پخوانی وخت نه دی چې له عطرونو او اسپرې څخه به مېرمنې محرومې وې؛ نو لازمه نه ده چې په ننني عصر کې هم د دوی بدن بد بوی وکړي بلکې هرې مېرمنې ته پکار ده چې کله يې خاوند ته ونږدې کېږي بايد اسپرې يا عطر استمال او خپل نظافت ته زياته توجو وکړي؛ خو دا نه يوازې چې بايد ښځينه يې په نظر کې ونيسي بلکې نارينه ته هم په کار ده چې دې اړخ ته زياته توجو وکړي.

ځکه له ځينو نارينه‌وو وجود دومره بد بوی کوي چې ورسره څملاسته يوه دنيا زړه غواړي.

څلورم: په تنده لهجه خبرې کول. په تنده لهجه خبرې کول د اورېدونکي د ورخطايي سبب کېږي، په ګډ ژوند کې بايد نارينه او ښځينه تل په نرمه او له مهربانۍ ډکه لهجه خبرې وکړي دا ددې باعث کېږي چې د دوی په قراردادي( ګډ) ژوند کې د مينه خواږه وشيندل شي او تل يې په شونډو موسکا وغوړېږي.

پينځم: تل منت کول. که هر څومره انسان حوصله‌ناک وي خو يوه ورځ نه يوه ورځ يې د بدو په مقابل کې د صبر کاسه ډکېږي؛ نو په مشترک ژوند کې دغه نقطې ته د خاوند تر څنګ مېرمن هم بايد زياته توجو وکړي، تل له يو بل سره په خوږه لهجه خبرې وکړي، د امکان تر حده کوښښ وکړي چې منت ورباندې ونه کړي؛ ځکه تندې خبرې کول په ګډ ژوند کې ځانته لکه په خوړو کې زهر شيندل دي.

شپږم: بې ځايه جروبحث کول. که چېرې خپله کورنۍ په نظر کې ونيسو، د مور او پلار په اولادونو کې هغه څوک ډېر بد ايسي چې له دوی سره ژبه کوي؛ خو مور او پلار ته تر اولاد نږدې څوک نشته؛ مګر له همدغه مور او پلار سره زياتره وخت د بې ځايه جروبحث حوصله نه وي په ځينو مسايلو کې له اولاد سره ډېر ژر خبره شل تر شپاړس کوي؛ نو خاوند او مېرمن ته خو بېخي لازمه نه ده چې په اندکي خبره له يو بل سره چټې جروبحث وکړي. دغه ډول بې ځانه زشت عملونه په ژوند کې د مينې ستورې په تېرو ويشتل دي.

اوم: تل ګيلې کول. ګيلې کول انسان د مايوسۍ کندې ته ورټېل وهي او زياتې ګيلې د سړي قدر کموي؛ نو لازمه داده چې د امکان تر حده کوښښ وکړو هېڅکله له چا څخه ګيلې ونه کړو او په ګډ ژوند کې خو بايد ښځينه او نارينه بېخي د ګيلې په نامه هېڅ شی ونه پېژني.

اتم: بې حده خواهيشات په نفس باندې اعتماد د زياتو خواهيشاتو د مخنيوي يوازيني لار ده، هر هغه څوک چې له دغه ځواک څخه محروم وي د خواهيشاتو په پالنه باندې روږدي وي؛ مګر زيات خواهيشات انسان له ټولنيز ژونده نيولې په ګډ ختمه له هر ډول خوږو څخه محروموي.

نهم: بېځايه لګښتونه هره کورنۍ له ورځنيو لګښتونو ورابخوا سپما ته هم اړتيا لري چې يو مقدار پسې هغه زموږ په عامه لهجه بدې ورځې ته وساتي هر هغه کورنۍ چې سپما ځواک نه لري د دوی بې حده لګښتونه ددې سبب کېږي چې کورنۍ نظام يې ګډوډ شي.



# يو وخت پاچا وم اوس مستري يم!

”هغه وخت چې د شاه امان الله خان غازي پر خلاف د هر مسجد له منبره د ملايانو نارې پورته سوی او په نتيجه کی دی دبلوچستان د کويټې له لاری بهر ته په تبعيد مجبور سو ، وايي چی کله په فرانسه کی وو نو نجاري به يی کوله او خپل ژوند به يې د لاس په ګټلې مزدورۍ مخکی وړی، يو وخت ډېر تنګدسته وو نو يې اعليحضرت نادرخان ته احوال وليږی چی ډېر ناداره سوی يم څه نلرم که د دولت له بودجې څخه يو څه ورته حواله کړي.

نو زموږ مشکلات به حل سی نادرخان په ښکاره څه ونه ويل خو داخبره يې پارلمان ته راجع کړه او وکيلان يی وپوهول چی ددغه غوښتنې پر خلاف رايه ورکړي او هماغسی وسول، له دی وروسته د مرګ تر وختة بيا امان الله خان د افغانستان له مرکزی اداري هيڅ ونه غوښتل.

ډاکټر شاهي مستمندي د شاه په اړه خپله يوه خاطره ذکر کړی چې:

يوه ورځ ملکې ثريا د خپل کور د دويم پوړ يوې کـوټې ته بوتلم. کـوټې تت شين رنګ درلود. په يوه کونج کې د خوب يو ډېر ساده لرګين تخت پروت وو او تر څنګ يې يو کوچنئ د کار مېز او چوکۍ ليدل کيدل. د خوب د تخت له پاسه پر يوه مېخ تسبې راځړېدې، له تسبو پورته کليمه مبارکه ليکل سوې وه. ملکې ثريا د تخت روکش (روجايي) لږ کش کړه او له لاندې يې يو وړوکی بالښت راوېست، راته ويې ويل:“په دې بالښت کې د افغانستان خاوره ده. کله چې اعليحضرت له افغانستانه راووت، دا خاوره يې له ځان سره راوړه او هر وخت به چې بيده کيدی پر دې به يې سر کښېښود او وصيت يې کړی و، چې که له وطنه لرې مړ سوم او په افغانستان کې مې د ښخولو امکان نه و، نو هر چېری چې ښخ سوم، دا خاوره مې پر قـبر کې واچوئ.

لور يې شهزادګۍ هنديې په يو مجلس کی ويل زما په ياد دي چی يوه ورځ می له پلار سره بيخي هيڅ نه وه پاته موټر يې خراب وو موږ ډوډئ ژر ژر ورته راتياره کړه ډوډئ يی وخوړل او لاندی موټر ته پريوت موټر يی خپله جوړ کړ چی راوخوت خندل يې لاس يی په ټوکر پاکاوه وای خير دا خو وختونه دي نو يو وخت پاچا وم اوس مستري يم“.

(c) ketabton.com: The Digital Library


Weekly Newspaper

National, Independent, Political, Social, and Cultural

# Tatobay

تاتوبی کندهار

TATOBAY KANDAHAR

Year 11th | Issue No: 513 | Sunday 19th, May, 2019

Twitter.com/@tatobay - www.Tatobaynews.com - Tatobay@gmail.com - Facebook.com/tatobayn

www.Tatobaynews.com  Tatobay@gmail.com  Tatobayn



زموږ سره اعلانات وکړئ

خپل د تجارت د لا پراختیا لپاره

زموږ سره په ویب پاڼه او فیسبوک پاڼه کې اعلانات وکړئ.

Tatobayn  www.tatobaynews.com


# دوی څه وایي!



"اوه میاشتې وروسته د ټاکنو پایلي اعلانیدل غمیزه ده."

غني:



"د میاشتي ۲ زره وسله وال مخالفین وژنو."

سعادت:



"د ولسمشرۍ د نوماندانو غوښتنه د قانون خلاف ده."

ارګ:



"د مشورتي جرګې پرېکړې د سولې لپاره تګلاره ده."

داودزی:

"که همغږي زیاته سي د پېښو مخه به ونیول سي."

د کورنیو چارو وزارت:



"حکومت د سولې پر وړاندي ستر خنډ دی."

اتـمر:



"له طالبانو سره خبرو کې پرمختګ سوی خو دغه بهیر ډېر ورو روان دی."

خلیلزاد:



"لا منځني ختیځ ته د ځواکونو د استولو هوډ نلرو."

ټرمپ:



"د طالبانو او امریکا د خبرو پایلو ته مو سترګې دي."

عبدالله:



"شپنیو عملیاتو کې له نوي سلنه زیات ملکي وګړي وژل کېږي."

مسلمیار:



"افغان سرتېرو سره د امریکا مرستو کې تغیر نه دی راغلی."

اندرابي:




**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**